# په وسله والو شخړو کې
# د افغانستان د ماشومانو ساتنه

## د اسلام، ملي او نړيوالو قوانينو له نظره



دافغانستان لپاره دملګرو ملتونو مرستندویه پلاوي

بسم الله الرحمن الرحیم

# په وسله والو شخړو کې د افغانستان د ماشومانو ساتنه
## د اسلام ، ملي او نړیوالو قوانینو له نظره

**دافغانستان لپاره دملګرو ملتونومرستندویه پلاوي**

# فهرست

سریزه ........................................................................................................ 1
۱. د ماشومانو وژل او ټپي کول ............................................................................ 4
۲. د جنګیالیو په توګه د ماشومانو ګمارل ، ګټه اخیستنه او د ماشومانو تړاو د جنګ د ښکیلو ډلو سره ...................................................................................................... 13
۳. پر ماشومانو جنسي تیري او نور قسمونه د تیري ....................................................... 22
۴. د ماشومانو اختطاف ........................................................................................ 31
۵. پر ښوونځیو او روغتونونو باندي حملې ............................................................... 36
۶. بشردوستانه خدمتونو ته د لاس رسي مخنیوي ........................................................ 49

# په وسله والو شخړو کې د افغانستان د ماشومانو ساتنه

## د ماشومانو او وسلوالو شخړو په اړوند د اسلامي شریعت اصول ، ملي قوانین او د بشري حقونو او بشر پالنې نړیوال معیارونه

### سریزه

ماشومان ، په ځانګړي ډول هغه ماشومان چه په وسلوالو شخړو کې ښکیل دي ، د ټولنې زیانمنیدونکي قشر تشکیلوي. باید د شخړي ټولي ښکیلې خواوې د دوي نه ناوړه ګټه وانخلي او د زیان په صورت کې ترې ساتنه وکړي. د اسلام مبین دین ، نړیوال بشري حقونه او بشر دوستانه قوانین ،د ماشومانو د خوندیتوب په اړتیا باندي ټینګار کوي .د ملګرو ملتونو سازمان د امنیت شورا ۱۶۱۲ (۲۰۰۵) نمبر پریکړه لیك په ځانګړي توګه د جګړې پرټولو ښکیلو ډلوغږ کوي چې ، د جنګ په حالت کې د ماشومانو پر خلاف د شپږو څرګندو سرغړونو څخه د مخنیوي په خاطر ، چې عبارت دي له : دماشومانو وژل او ټپي کول ،د جنګیالیو په توګه د ماشومانو ګمارل او ورڅخه ګټه اخیستنه ، د جګړه ایزوډلو لخوا د ماشومانو تښتونه ، په مکتبونو ، کلینیکونو او روغتونونو بریدونه ، جنسي تیري اودماشومانو په وړاندې د زورزیاتي نور ډولونه او همدارنګه بشري مرستوته د ماشومانو دلاسرسي د مخنیوي پراړوند کوټلي ګامونه پورته کړي .

په افغانستان کې د روانو وسلوالو شخړو په پام کې نیولو سره ، د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوي (یوناما)، د ټولو ماشومانو د حقونو د خوندیتوب او ودې لپاره دغه رساله برابره او خپره کړې ، تر څو هغه هڅې چې د افغانستان د نظامي ځواکونو او وسلوالو مخالفینو په ګډون ، په شخړو کې د ښکیلو اړخونو لخوا دافغانستان د ټولو

ماشومانو دحقونو دخونديتوب او ودې لپاره رواني دي ،لاپياوړې کړي. له دغې رسالې څخه چې د اسلامي شريعت او نړيوالو قوانينو په رڼا کې ترتيب شوې ده ، په شخړو کې د ماشومانو د حقونو په هکله د پوهاوي د خپرولو په خاطر ګټه اخيستل کيږي ، ترڅو په جګړه کې د ښکيلوټولو اړخونوپه منځ کې د اسلامي شريعت د اصولو او د ماشومانو د حقونو د خونديتوب د نړيوالو معيارونو سره سم ، مسوليت منل دود کړي او د کلکې حساب ورکوني د ميکانيزم او په نهايت کې د ماشومانو د حقونو څخه د سرغړونې د مخنيوي سره همکاري وکړي.

دغه رساله د يو لړ پراخو سلامشورو او مباحثو نتيجه ده ، پدي اړوند د لومړي ځل لپاره يو کانفرانس د۲۰۱۳ کال د مي د مياشت په ۳ نيټه کې جوړ شو ، بيا ورپسي په دي اړوند يو تعداد بحثونه وشول او په اخر کې د ديني علماو ، مذهبي مشرانو او د نړيوالو قوانينو د کار پوهانو لخوا تاييد ، چي په دغه پروسه کې شامل وو نهايي شوه.

ځينو علماوو کرامو او کارپوهانو يادونه کړي ، چي سره لدې چې ځينې وختونه د مذهب څخه په استفادي سره داسي تفسيرونه کيږي چې د ماشومانو ځيني زيانمنکيدنوته: لکه په وسلوالوځواکونو کې د جنګياليو په توګه د هغوي استخدامول او ګمارنه ، توجيه کيږی ، مګر هغه شپږ ستري جدي سرغړونې چې د ملګرو ملتونو د امنيت شورا په ۱۶۱۲ پريکړه ليك کې تري يادونه شوي ، د افغانستان د ماشومانو په حقونو باندي بربنډ تيري او د اسلام اساسي اصولو پر خلاف دي .

ديني علماء کرام او کارپوهان پر دي باندي متفق دي چې د ماشومانو حقونه خوندي او په قران او احاديثو کې واضح دي ، ډير قراني آيتونو او احاديثو کې د ماشوم په حقونو تاکيد شوی چې دلته د نموني په ډول دا لاندي حديث ذکر کوو.

اسمعيل بن جعفر المد ني مونږ ته روايت کړي دي چي(عبدالله ابن دينار د ابن عمر نه) چه د الله پيغمبر فرمايلي دي چې هر يو له تاسي نه مسووليت او هر يو له تاسي نه د خپل قوم او خلکو پروړاندي مسووليت لري ، هر سړي د خپلې کورنۍ د غړومحافظ اودهغو په

وړاندې مسوول دی او د خپلې ټولنې (امت) پر وړاندې مسوولیت لري . د یو سړي ښځه د خپل خاوند او ماشومانو مسووله ده ، د یو چا غلام د خپل بادار د ملکیت مسوول دی. خبردار هر یو له تاسي نه مسوولیت لري او د هغه نه به د خپل قوم او خپلو خلکو په وړاندې پوښتنه ګرویږنه کیږي (صحیح البخاري روایت ۲۵۵۸).

دغه روایت د حقونو په اړه نه ، بلکه د مسؤلیتونو څخه یادونه کوي. د اسلامي قواعدو پر بنسټ ، یو کس نشي کولاي چې یوازې د شرعي حکم د متن نه استنباط وکړي ، بلکه لازمه ده چې د موضوع په اړه د موجودو نورو نصوصو څخه په استفادې سره تحلیل وکړي ،تر څو ټول قواعد او اصول چې د ماشومانو د حقونو په اړه تطبیق وړ دي استنباط کړي. په اسلام کې د ماشومانو پر حقونو د بحث څخه تر مخه ، باید واضح کړو چې اسلامي شریعت همیش د ماشومانو بهترینې ګټې په نظر کې نیولي ،لکه څنګه چې دواړه بحثونه ، ولایت (دپلاردمړینې یا ورك کیدو په صورت کې دپلار یا نژدې دوستانو صلاحیت) او وصیت (په مالي چاروکې سرپرستي چې دپلار دمړینې په صورت کې ماشوم ته پاتې کیږي) د ماشوم دګټو په اساس وضع شویدي.

د شخړو په حالت کې د ماشومانو د حقونو نه د لاندنیو شپږو سترو جدي سرغړونو نه هره یوه ، د اسلامي شریعت ، د بشري نړیوال حقونه ، دبشردوستۍ نړیوال قوانینواو همدارنګه د ملي قوانینو په رڼا کې تحلیل شویده. دماشومانو په وړاندې شپږ ستري جدي سرغړونې د دري واړه قوانینوپه برخه کې ( اسلامي قوانینو ، دبشري حقونوقانون ، دبشردوستۍ قانون) کې په څرګنده جنایت منل شویدي. په دغه رساله کې یاد شوي قوانین او اصول ، د یاد شویو دریو قانوني سرچینو په تړاو دماشومانو د حقونو د خوندیتوب لپاره یو ښه چوکاټ برابروي او د جګړې د ټولو ښکیلو خواوو په ګډون ، د دولت ټولې وسلوالې مخالفې ډلې او د افغانستان دولت ټول نظامي ځواکونه ددغه قانون لاندې جواب ورکونکي دي. دوې مسوولیت لري چې د افغانستان د ماشومانو د حقونو د خوندیتوب او ودې په خاطر مثبت ګامونه واخلي او په دغه رساله کې د ذکر شویو شپږ و تیروتنو دترسره کولو په صورت کې باید د عدلي تعقیب سره مخامخ شي.

## ۱. د ماشومانو وژل او ټپي کول



© Jacob Simkin

د شرعي نصوصو سره سم ، د انسان وژل او ټپي کول یوه لویه ګناه ګڼل کیږي او په اخیرت کې سخته سزا ورته ټاکل شویده. ددي لپاره چه د جرم شدت په ګوته کړي ، قران کریم د یو انسان وژنه د ټول انسانیت د وژني سره توجیه کړیده. په اسلامي شریعت کې ماشوم معصوم او بیګناه ګڼل کیږي ،نو پدي اساس هغه ته هیڅ مسوولیت نه متوجه کیږي .دیوه ماشوم قصدي وژنه د قتل سخت ترینو ډولونود څخه دي او په دنیا او اخرت کې دهغه لپاره ترټولو سخته سزا ټاکل شویده.

**قرآن کريم:**

**«مَنْ يَقْتُلْ مُؤْمِنًا مُتَعَمِّدًا فَجَزَاؤُهُ جَهَنَّمُ خَالِدًا فِيهَا» (سورة النساء ٩٣)**

**ژباړه:** او هر څوك چي مړ كړي كوم موءمن په قصد سره (او د مسلمان دغه قتل روا هم وګڼي) نو جزا د ده دوزخ دي (په داسي حال كې) چي تل به وي د (دغه حلال كوونكي د قتل) په هغه دوزخ كې. (النساء سوره ، ٩٣ ايت)

**لنډه تشريح:** هر كله چه يو مسلمان بل مسلمان قصداً وژني ،سره لدې چې پدې اړوند د مذاهبو تر منځ يو څه اختلاف نظر موجود دي ،لكين يو نظر دا دي چې د هغي جزا تل پاتي جهنم دي.

سر بيره پردي په سورت المايده آيهٔ نمبر ٣٢ كې الله تعالي فرمايلي دي.

**«مَنْ قَتَلَ نَفْساً بِغَيْرِ نَفْسٍ أَوْ فَسادٍ فِي الْأَرْضِ فَكَأَنَّما قَتَلَ النَّاسَ جَمِيعاً وَ مَنْ أَحْيَاها فَكَأَنَّما أَحْيَا النَّاسَ جَمِيعا» (سورة المائدة ٣٢)**

هرڅوك چي ووژني يو نفس بي له (عوض يا بدل د) بل نفس نه (يا بي) له فساده په ځمكه كې (چي په ملك كې يي فساد كړي وي) نو ګواكي وژلي يي دي خلك ټول ، او هر چا چي ژوندي كړه دغه نفس (يو نفس چي سبب شي د ژوندون يي) نو ګواكي ژوندي كړي يي دي خلك ټول. (المائده سوره ، ٣٢ ايت)

**«بِأَيِّ ذَنبٍ قُتِلَتْ» (سورة التكوير ٩)**
په كوم ګناه وژل شوي ده. (التكويرسوره ، ٩ ايت)

**لنډه تشريح:** په پورتني ايت كې دا واضح شويده چي د قيامت په ورځ د هغې ژوندې ښخې شوې نجلۍ په اړوند پوښتنه كيږي چې دا ولي ژوندې ښخه شوې ده او د كوم ګناه

په جرم وژل شویده. په دي اساس د بیگناه خلکو وژنه محکومه شویده او د اسلامي شریعت پر خلاف یو کار گڼل شویدي. یو کس یوازې هغه وخت په مرگ محکومیږي چې ، ډیریو سنگین جرم یې کړي وي. مثلاً یو بل انسان یې وژلي وي ، په ځمکه کې یې د سولې په خلاف یا نسل وژنې او د بشریت خلاف جرمونه تر سره کړي وي.

**حديث شريف:**

**«لَا تَغُلُّوا وَلَا تَغْدِرُوا وَلَا تُمَثِّلُوا وَلَا تَقْتُلُوا وَلِيدًا» (رواه مالک في موطأ)**
تجاوز مکړئ ، غدر مکوئ ، اندامونه مه پریکوئ او ماشومان مه وژني.

په ټولو جهادي میدانونو کې پیغمبر علیه السلام خپلو جنگي قوماندانانو ته لارښوونه کوله او فرمایل یې چې:

**«أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: انطلقوا باسم الله وبالله، وعلى ملة رسول الله صلى الله عليه وسلم لا تقتلوا شيخا فانيا، ولا طفلا صغيرا، ولا امرأة، ولا تغلوا، وضموا غنائمكم وأصلحوا وأحسنوا إن الله يحب المحسنين» (رواه أبو داود)**

**ژباړه:** ووزئ د الله په نوم او د الله لپاره ، د رسول الله (صلي الله عليه و سلم ) امته ، تاسي بوډا گان کوچنیان یا ماشومان او ښځې مه وژنئ. غلا او زیاتي مکوي ، تاسې غنیمتونه راټول کړي او سوله وکړئ ، نیك اعمال تر سره کړئ ، په تحقیق سره الله تعالي نیکي کونکي خوښوي (روایت ابو داود)

**«قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَقَتْلُ مُؤْمِنٍ أَعْظَمُ عِنْدَ اللهِ مِنْ زَوَالِ الدُّنْيَا» (رواه النسائ)**

**ژباړه:** رسول الله( صلي الله غله وسلم )فرمايلي دي: قسم په هغه ذات چي زما ژوند د هغه په لاس کې دي ، د يو مومن وژل ، ددنيا د ويجاړولو نه هم لويه ګناه ده.(روايت نسايي )

**«عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْمُسْلِمُ مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُونَ مِنْ لِسَانِهِ وَيَدِهِ وَالْمُهَاجِرُ مَنْ هَجَرَ مَا نَهَى اللهُ عَنْهُ» (صحيح بخارى جزء اول, صفحه ١٥)**

عبد الله بن عمر (رض) د پيغمبر (ص ) نه روايت کړيد ي چي فرمايي: مسلمان هغه څوك دي چي نور مسلمانان د هغو د ژبي او لاسونو نه په امان کې وي او مهاجر هغه څوك دي چې د هغه څه نه ، چي الله منع کړي ، هجرت وکړي (صحيح بخاري جز ١ ،صفحه ١٥)

**لنډه تشريح:** اسلام دانساني ژوند ارزښت په رسميت پيژني ، پدي اساس يې د ژوند خونديتوب او ساتنه يو د پنځو هدفونو څخه ګرزولي ، نود بيګناه خلکو ، په ځانګړې ډول ، ماشومانو وژل په اسلام کې منع شويدي.

**ملي قوانين**

**د افغانستان اساسي قانون**

**٢٣ مه ماده:**

ژوند د الله تعالي بخښنه او د انسان طبيعي حق دي ، هيڅوك له قانوني مجوزه پرته له دي حقه بي برخي کيداي نشي.

**د افغانستان د جزا قانون**

**٣٥٨ مه ماده:**

1.که څوك پخپله يا د بل شخص په واسطه د يو شخص ژوند چه د پنځلس کلنی

عمر یی نه وی پوره کړی ، یا د هغه شخص چه د صحی ، روحی یا عقلی حالت په سبب د خپل ځان د ساتنی څخه عاجزه وی د خطر سره مخامخ کی ، په متوسط حبس چه د دري کلونو څخه زيات نه وي يا په نقدي جزاء چې د شپږ ديرش زرو افغانيوتجاوز ونه کړي محکوميږي.
2.که ځوك کوچني يا بي وسي شخص په کنډواله ځای کی خوشی کی په متوسط حبس محکوميږي که څه هم ذکر شوی جرم د والدينو څخه د یوه په وسيله يا د هغه چا په وسيله چه د ساتنی يا پاملرنی متکفل وی ، ارتکاب شوی وی.
3.که د دې مادې د (دوهمي) فقرې د درج شوي جرم د ارتکاب په اثر مجني عليه معلول يا فوت شي او ارتکاب کوونکي د هغي قصد نه وي لرلي ، د وهلو په ټاکل شوي جزا چي په معلوليت يا مرګ منجر کيږي د حالونو سره سم محکوميږي.
4.که کوچني يا بي وسي شخص د داسي تغذيي يا پالني څخه چه د هغه د حالت مقتضي ده عمداً محروم شي او د هغي په اثر د هغه ژوند د خطر سره مخامخ شي ، ارتکاب کوونکی د دې مادې د (۳) فقرې په درج شوي جزا محکوميږي.

**۳۹۵ مه ماده:**

د عمدي قتل ارتکاب کوونکی په یوه راتلونکي حالت کښې په اعدام محکوميږي:
1.په هغه حالت کښې چه قتل د پخوا ني اصرار او ترصد سره يو ځاي وي.
2.که قتل د زهرناکو بي هوشه کوونکو يا چاوديدونکو موادو د استعمال په وسليه صورت موندلي وي.
3.که قتل په ټيټه انګيزه يا د اجوري په مقابل کښې يا په وحشي توګه صورت موندلي وي.
4.که مقتول د قاتل د اصولو څخه وي.
5.که د قتل عمل د عمومي خدمتونو په موظف د وظيفي د اجرا کولو په وخت کښې يا د هغي په سبب صورت موندلي وي.
6.که قاتل د يو نفر څخه د زياتو د قتل قصد لرلي وي او د يوه فعل په اثر د ټولو قتل صورت موندلي وي.

7.که قتل د بل جنایت یا جنحي سره یو ځای صورت موندلي وي.

8.که قتل د جنایت یا جنحي د تمهید ، اسانتیا ، تنفیذ ، قادریدلو د ارتکاب په منظور چه جزا یي د یو کال څخه کمه نه وي تاکل شوي یا د جزا څخه د فرار یا خلاصون په منظور صورت موندلي وي.

9.که د عمدي قتل ارتکاب کوونکی په دوام لرونکی حبس محکوم وي او د حکم د تنفیذ د مودي په اوږدو کې د بل عمدي قتل ارتکاب کوونکي یا په هغي کښېکې شروع کوونکي شي.

د افغانستان اساسي قانون چې د ټولو ملي قوانینو لپاره د سرچینې حیثیت لري چې پکې د ژوند حق الهي ورکړه (وهبیت) طبیعي حق د ټولو انسانانو په شمول د سړیو ، ښځو او ماشومانو روښانه او تسجیل کړیده سر بیره پر دي د افغانستان جزا قانون هغه کسانو لپاره چي د خلکو نه ددوي ژوند حق اخلي وضعي جزا ګاني تعین کړیدي.

## نړیوال مقررات

### د بشري حقوقو نړیواله اعلامیه

**۳ مه ماده:**

هر خوك د ژوند د ازادي او ځاني مصونیت حق لري.

**د ماشومانو د حقونو کنوانسیون** [چي د افغانستان دولت د۱۹۹۴ کال د مارچ د میاشتي په ۲۸ نیټه د نوموړي کنوانسیون الحاق کړي دي ]

**۶ مه ماده:**

1. د ټرون لوري هیوادونه د ماشوم د ژوند کولو فطري حق په رسمیت پیژني.
2. غړي هیوادونه باید تردیره بریده پورې د ماشوم وده او پاتي کیدل تضمین کړي.

**د ژنيو ۱۹۴۹م کال کنوانسيون د دريمې مشترکه مادې حکمونه**

په هر راز شرايطو کې له هغه خلکو سره له نژاد ، مذهب يا عقيدي ، جنس ، توکم ، شتمني او دي له ورته نورو (ارزښتونو په نظر کې نيولو پرته) انساني چلن وشي چي په جګړه کې نيغ په نيغه ګډون ونه لري.

**د جګړي پر مهال د ملکي وګړو دژغورلو په اړوند (څلورم) کنوانسيون**

**۱۴۷ مه ماده:**
ستر تخلفات [.......] که چيري هر چاته اود هر چا ملکيت ته چه پدي کنوانسيون کې ورته د ژغورنې امرشوي دي ،تخطي صورت نيسي : د انسان قصدي وژنه ، شکنجه يا غير انساني چلند په شمول د بيالوژيکي وسلواستعمال چې وجود(بدن) يا صحت ته شديد دردونه يا ټپونه اړوي ، په غير قانوني توګه له وطنه شړل ، ليږل ،غير قانوني توقيف ،ددولت په مسلحو قواوو کې خلك په زورخدمت ته ګمارل ددې معاهدې د مقرراتو سره سم يوه بې طرفه او منظم عدالت دخلکو دلاسرسي مخنيول ،دخلکو يرغمل کول ، د شتمنيونيول يا ويجاړول چې د نظامي اړخه اړين نه وي ، په غيرقانوني او خپل سري توګه ترسره شي

**د روم د بين المللي جنايي محکمي اساسنامه** (افغانستان په۲۰۰۳ فبروري کې امضا کړ)

**۸ مه ماده ، جنګي جنايتونه:**
۲.۸. په دي اساس نامه کې «جنګي جنايتونه» لاندي معناوي ورکوي:
۲.۸. (ج) په هغه وسله واله نښته کې چي نړيواله بڼه ونلري جدي تخطي د دريمي مشترکې مادي چي د جينوا په څلورو کنوينسيونونه چه په ۱۹۴۹م کال

اګست ۱۶ تصویب شوي دي د لاندي عملونو سرته رسول د هغه خلکو پر خلاف چه په جګړه کې نیغ په نیغه ګډون نه لري ، د وسله وال پوځ هغه وګړي چي وسله پر ځمکه ږدي او یا هغه خلك چي د ناروغي ، ټپ ، توقیف او یا بل لامل له مخي د جګړي له لیکو څخه ایستل کیږي په هر ډول شرایطو کې منع دي.

۱- د هغوي ژوند او ځان ته زیان رسول ، په ځانګړي توګه وژنه هرډول چي وي ، د غړو غوڅول ، بیرحمانه چلند کول او ځورونه او ربړول.

۲- یرغمل نیونه

۳- د خلکو سپکاوي ، په ځانګړي تو ګه له هغوي سره له ملنډو ډك او سپکوونکي چلند.

۴- د اسیرانود اعدام حکم صادریدل پرته له دي چي یوي واکمنې قانوني محکمي لخوا صادریږي ، دا محکمه باید له ټولو قضایي ضمانتونو څخه برخمنه وي چي عموماً ضروري ګڼل کیږي.

.۲.8 (هـ) (i) قصدي حملي په ملکي ټولنو او یا هغه ملکي افرادو پر طرف چي په نښته کې مستقیماً د خیل نه وي.

.۸,۲ (هـ) (iv) په قصدي ډول او نیغه په نیغه هغه ودانیو باندي یرغل چې د دیني مسایلو ، ښووني ، هنر ، علم او یا خیریه کارونو لپاره کارول کیږي ، تاریخي ځایونه ، روغتونونه او هغه ځایونه چیرته چې ناروغان او یا ټپیان په کې ټولیږي چې نظامي هدفونه نه دي.

تخطي د ممانعت د تهدید د ژوندانه یا د افرادو د ملکي وګړو په شمول د ماشومانو په ځانګړي ډول هر رنګه وژنه ، د غړو غوڅول ، بیرحمانه چلند کول او شکنجه دنړیوالو عرفي حقوقو یو اصل دی چي په نړیواله کچه د نښتو په مهال د جنګ کښې دښکیلو ډلو لخوا د عملي کولو وړتیا لري. د جینوا د کنواسیونونو دریمه مشترکه ماده د اولني حیاتي منبع په توګه پیژندل شوي. دریمه مشترکه ماده په نړیواله کچه عملي کیدونکي ده او په هیڅ ډول اخیستل کیږي نه. دغه ماده د نښتو د ټولو ښکیلو ډلو (دولتي یا غیر دولتي)

اړخونو له لوري د تطبيق وړ ده. شکنجه او غير انساني کړني ددي  مادي په اساس يوه جدي تخطي ګڼل کيږي.

د نړيوالو بشر دوستانه قوانينو دوه غوره اساسات چي يو يي د تناسب او بل يي د تشخيص اصول دي

- **د تناسب اصل:** د هر نظامي بريد مخنيوي کوي چي په احتمالي توګه د ملکي وګړو د مرګ او ژوبلي يا ملکي شتمنيو ته د مالي خساري سبب ګرځي. او ښايي د هغه مشخصو او مستقيمو نظامي برياوو په پرتله ډيري زياتي وي چه له بريد څخه  يي تمه کيږي.

- **د تشخيص اصل:** د تشخيص اصول د جنګ دواړو ښکيلو ډلو څخه غوښتنه کوي چي بايد هر مهال د جنګيالو او ملکي وګړو تر منځ توپير وکړي او تر لازمه بريده هڅه وشي تر څو حملې د ملکيانو ژوند او شتمني ته متوجې نه اوسی. د ړندو وسلود استعمال ممانعت: د مثال په ډول د فشار په ذريعه چاوديدونکي توکي چي هغه د نظامي او ملکي هدفونو ترمنځ  فرق نشي کولاي او استعمال يي دجنګي قوانينو سره په مغايرت کې قرار لري ، د نړيوالو تعهداتو ته د ژمنو طرفونو لپاره تخطي ګڼل کيږي.

## ۲. د جنګیالو په توګه د ماشومانو ګمارل ، ګمه اخیستنه او د ماشومانو تړاو د جنګ د ښکیلو ډلو سره


© humanium

اسلامي قوانین د شخړو د قانون د تشخیص د اصولوسره مطابقت لري پدي اساس د قانوني او غیر قانوني اهدافو ترمنځ توپیر څرګندوي ، په ملکي وګړو او د هغوي په شتمنیوحملي د مسلحو شخړو په ټولو حالتونو کي منع دي. په همدي منظور اسلامي شریعت د ښځو ، ماشومانو او ملکي خلکو پر خلاف حملي منع کړي ځکه نوموړي د ټولني اسیب پذیره قشر دي او حتي دوي د خپل ځان نه د دفاع وړتیا نلري. سر بیره پر دي دا هغه خلك دي چي همیش په شخړو کې فعاله ونډه نلري لدي امله د ماشومانو ونډه اخیستل په مسلحو شخړو کې د تشخیص بنیادي اصول تر پښولاندي کوي .

په شخړو کې مستقیمه ونده اخیستونکي کسانو ته هم یو تعداد مسوولیتونه او ذمه داري ورپه غاړه وي ولي د ماشومتوب عمر داسي دوره ده چه په هغه کې ماشومان ددي مسوولیتونو د منلو او سرته رسولو توان نلري. ددي نه علاوه که د اسلام مبین دین ته زیر

شو ماشومان يي حتي په لمانځه ندي مکلف کړي او که دوي د کوم جرم مرتکب کيږي هغوي ته مجازات نه متوجه کيږي نو په همدي دلايلو ديني علما کرامو سره هميشه دا سوال موجود دي چي څنګه توجيه کيداي شي چه ماشومانو ته په شخړو کې د شرکت کولو اجازه ورکولای شي په داسي حال کې چه دا د دوي د فزيکي ،روحي او رواني تربيت او رشد ته هم نقصان رسوي.

**قرآن کريم:**

**«لاَ يُكَلِّفُ ٱللَّهُ نَفْسًا إِلاَّ وُسْعَهَا لَهَا مَا كَسَبَتْ وَعَلَيْهَا مَا اكْتَسَبَتْ» (سورة البقرة ۲۸۶)**

نه کوي تکليف الله پر هيڅ نفس باندي مګر (په اندازه د) طاقت د ده (دي) دي نفس لره (ثواب د) هغه (عمل) چي کړي (يي) دي او (شته) په ده باندي (وبال) د هغه (عمل) چي کړي (يي) دي. (بقره سوره ، ۲۸۶ ايت)

**لنډه تشريح:** په هر مسلمان باندي لازمه ده چي د خپلي کورني او د بل د کورني د تربيت او اصلاح ته متوجه شي او دوي سمي لاري ته په محبت او تفاهم سره راوبولي.

**حديث شريف:**

**قَالَ رَسُولُ ٱللَّهِ صَلَّىٰ ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «رفع القلم عن ثلاثة ، عن النائم حتى يستيقظ ، وعن الصبي حتى يحتلم ، وعن المجنون حتى يعقل». (صحيح أبي داود)**

پيغمبر عليه السلام فرمايلي: له دري کسانوڅخه مسوليت اخيستل کيږي ، څوك چه په خوب ويده وي تر هغي چي بيدار(ويښ) شي. ماشوم تر هغي چي بلوغ ته ورسيږي او ليوني تر هغي چي جوړ شي. ( علي ابن ابي طالب سنن ابي داود )

**لنډ تشریح:** د دي حدیث په اساس دري کسان چه څه کوي مسوولیت هغوي ته نه راجع کیږي ( ماشومان ، هغه څوك چه په خوب ویده وي ، لیوني) لهذا ددي تفسیر په اساس تر هغه چي یو ماشوم د خپلو کړنو به وړاندي مسوولیت نلري نه باید د یو جنګیالي په توګه د جنګي ډلو لخوا استخدام شي.

پیغمبر علیه السلام د بدر په غزا کې ماشومانو ته د ګډون اجازه ورنکړه او په سیرت نبوي في زوایل قران کتاب۲ صفحه ۱۹۰ کې راغلي چي پیغمبر علیه السلام پنځه ماشومانو ته د احد غزا کې د ګډون اجازه ورنکړه.

**قَـالَ رَسُولُ ٱللهِ صَلَّـى ٱللهُ عَلَـيْـهِ وَسَلَّمَ «لَـيْسَ مِـنَّـا مَـنْ لَـمْ يَـرْحَمْ صَغِـيـرَنَـا ولـم يـوقـرَ كَـبِـيـرِنَـا ». (مسند أحمد)**

له مونږ نه ندي چي زمونږ په ماشومانو رحم نکوي او د لویانو مو عزت نکوي. (مسند احمد)

**لنډه تشریح:** مور او پلار مکلف دي چي خپلو ماشومانو ته نفقه برابره کړي او د سالم تربیت لپاره ورته زمینه ، وسایل او د تعلیم او تربیې محیط ورته برابر کړي. نه دا چه هغه یو داسي محیط سره مخامخ شي چه هغه ددوي د صحت او سلامتیا لپاره زیان ورسوي . په شخړو کې د ماشومانو ونډه اخیستنه او دوي د جنګ د اغیزو څخه د هغوي ساتنه کې پاتي راتلل د قرانکریم د اصولو او د پیغمبر د سنتو سره په مغایرت کې دي.

**ملي قوانین**

**د افغانستان اساسي قانون**

۲۴ مه ماده:

ازادي د انسان طبیعي حق دي. دا حق د نورو له ازادي او له عامه مصالحو پرته

چې د قانون له لیاري تنظمیږي حدوونه لري.

د انسان ازادي او کرامت له تیري خوندي دي. دولت د انسان د ازادي او کرامت په ساتنه او درناوي مکلف دي.

۴۹ مه ماده:
د جبري کار تحمیل منع دي.
د جګړي ، آفتونو او نورو داسي حالاتو کې چې عامه ژوند او هوساینه تهدید کړي فعاله برخه اخیستنه د هر افغان ملي وجیبه ده.

پر ماشومانو د کار تحمیل جواز نلري.

۵۵ مه ماده:
[.....] د عسکري د مکلفیت د دوري د تیرولو شرطونه د قانون له لیاري تنظمیږي.

**د افغانستان د جزا قانون**

414 مه ماده:
که شخص په غیر قانوني تصریح شوو حالونو یا د صلاحیت لرونکو مقامونو د امر څخه غیر بل شخص ونیسي ، توقیف یي کړي یا یي د کار څخه منع کړي ، د حالونو سره سم په متوسط حبس محکومیږي.

۴۱۵ مه ماده:
که نیول توقیف او منع کول د داسي شخص په وسیله تر سره شیچې رسمي لباس بي له دي چي حق یي ولري استعمال کړي یا خپل ځان په دروغجن صفت متصف یا یو جعلي امر د دولتي مقامونو امر په عنوان خلکو ته ښکاره کړي د

احوالونو سره سم په اوږده حبس چه د لس کلونو څخه زيات نه وي محکومیږي.

۴۱۶ مه ماده:
که نیول ، توقیف او منع کول په زور او اکراه یا د قتل په تهدید یا د بدني اذیت تهدید سره یو ځاي وي یا دا چه ارتکاب کوونکي د دولتي موظفینو د جملې څخه وي د دي قانون د (۴۱۵) مادي د تاکل شوي جزا په اکثري اندازي محکومیږي.

**د اطفالو د سرغړونو د رسیدګي قانون**

۸ مه ماده:
د طفل حجز د هغه د اصلاح او روزني د حل د وروستي لاري په توګه ګڼل کيږي.
محکمه د حجز د مودي په ټاکلو کې د دي قانون د حکمونو مطابق د هغه د شووني (ممکنه ) حد اقل موده په پام کې نیسي.

۱۰ مه ماده:
(3) د اطفالو اختصاصي محکمه واك لري چي د محکمي څخه د مخه د توقیف د حکم د صادرولو په وخت کې د طفل د توقیف کولو په عوض د حل نوري مناسبي لاري مطا لعه کړي.

۲۰ مه ماده:
(1) د عقل او پوهي خاوند طفل چي د دولس کلني سن یي نه وي بشپړ کړي ، د جنحي یا جنایت د جرم د ارتکاب په صورت کې د تحقیقاتو د بشپړولو لپاره حجز لاندي نه نیول کيږي. خارنوال هغه د خارني لپاره قانوني ممثل یا خپلوانو ته د درجو له په پام کې نیولو او ضمانت اخیستلو سره سپارلي شي.

۳۹ مه ماده:
۱. (۳)طفل د دوام حبس یا اعدام په مجازاتو باندي محکومیداي نه شي.

**د ماشومانو د اختطاف او قاچاق جرمونو پر وړاندي د مبارزې د افغانستان انتقالي اسلامي دولت د ریس جمهو فرمان (۱۳۸۱/۲۰۰۲)**

۲ مه ماده:

د ماشومانو اختطاف او لیږدونه چي د مجرمینو د منظمو او بین المللي ډلو لخوا ترسره کیږي ددولت د کورني او بهرني امنیت پر ضد جرمونو په قطار کې شمارل کیږي او دوسیه يي د کورني او بهرني امنیت پر ضد جرمونو (قضایي) محکمي صلاحیت لاندي راځي.

**دافغانستان د انتقالي اسلامي دولت د رییس جمهور فرمان د عسکري خدمتونو د تنظیم په اړه: (۲۰۰۲/۱۳۸۱)**

۱. ټول افغان نارینه اتباع چي عمر يي د ۲۲ او ۳۰ کلو پوري وي کولای شي چي د څلورو کلونو لپاره په عسکري خدمت کې په داوطلبانه او قراردادي شکل وظیفه اجرا کړي.

د افغانستان اساسي قانون فردي ازادي ته احترام لري او د اساسي قانون سره په مطابقت ټول ملي قوانین چي د ماشومانو په حقونو پوري مربوط دي د ماشومانو په ازادي او ساتني باندي متمرکزه دي . کم عمر چي د افغانستان د ملي اردو لیکو کې د شمولیت لپاره د جمهوري ریاست په فرمان کې راغلي دي د نړیوالو منل شوو بین المللي معیارونو څخه اوچت دي د نړیوالو بین المللي معیارونو له مخي په ملي نظامي قوتونو کې د شمولیت لپاره کم نه کم عمر ۱۸ کلني په نظر کې نیول شویده.

**نړیوال مقررات**

**د ماشومانو د حقونو د اختیاري پروتوکول کنواسیون په شخړو کې ښکیل ماشومانو (۲۰۰۰) [چي افغانستان په ۱۹ ستمبر کال ۲۰۰۲ د هغې سره الحاق کړیده]**

**3 مه ماده:**

1- ټول غړي هیوادونه باید د ماشومانو لپاره په نظامي یا ملي ځواکونو کې د شمولیت عمر حد اقل د ماشومانو د حقوقو تړون د ۳۸ مادي سره برابر کړي دغه ماده د غړو هیوادونو د حکومتونو څخه غواړي چي باید د ۱۸ کلني عمر نه کمو ماشومانو د ساتني لپاره لازم اقدامات تر سره کړي.

**4 مه ماده:**

**۱-** هغه مسلحې ډلې [.....] چه د دولت د مسلحو ځواکونو څخه جلا فعالیت کوي باید هیڅ ډول شرایطو کې د ۱۸ کالونو څخه کم عمره ماشومان د جنګ لپاره ونه ګماري.

۲- غړي هیوادونه مکلف دي چي د داسي ماشومانو د ګمارني او استعمال پر خلاف ټول ممکنه اقدامات ترسره کړي په ځانګړي ډول د قانون وضع کیدلو له لاري چي ددي ممانعت وکړي او دغه ډول کړني د یو جرم په ډول وپیژني.

۳- د دغه مادي اجرا به د هغه غړي دولت پر قانوني وضعیت باندي چي د جګړي په حال کې دي اغیزه نه لري.

**د مسلحو قواو او ګروپونو سره د ماشومانو ملتیا د پاریس اصول ، ۲۰۰۷**

**۲,۱ ماده:**

د یو ماشوم د مسلحو قواو او یا ډلو سره یو ځاي کیدل عبارت له هر کس نه دي چي عمر یي د ۱۸ څخه کم وي مسلحو قوتونو یا ګروپونو ګمارلي وي باید په هر شکل چي وي استعمال په شمول د ماشومانو که هلکان وي یا انجوني استعمال یي د یو جنګیالي په صفت وي یا اشپز ، جوالي ، پیغام وړونکي جاسوسي او

جنسي مقصدونو لپاره وي دا يواځي د هغه ماشومانو پوري محدوده نه دي چي هغه په شخړه کې مخامخ برخه اخيستي وي يا يي اخلي.

**د روم د بين المللي جنايي محکمي اساسنامه [افغانستان په کال ۲۰۰۳ فبروري مياشت کې عضويت ترلاسه کړي]**

**8 مه ماده ، جنګي جنايات:**

۸,۲. په دي اساس نامه کې «جنګي جنايتونه» لاندي معناوي ورکوي: [په غير بين المللي مسلحو شخړو کې د تطبيق وړ قوانينو او رواجونو څخه سرغړنه]

۸,۲. (ه) (vii) د ماشومانو ګمارنه چي عمر يي د ۱۵ کالونو څخه کم وي په مسلحو قواو يا ګروپونو کې يا د دوي استعمال چي په جنګونو کې فعاله ونډه واخلي.

هغه قواعد چي ماشومان بايد په مسلحو قواو او ګروپونو کې ونه ګمارل شي يا ماشومانو ته په شخړو کې د ګډون اجازه ورنکړل شي د بين المللي عرفي قوانينو له لاري تنظميږي چه هغه په بين المللي او غير بين المللي شخړو په دولتي قواو او غير دولتي ګروپونو باندي يو شان د تطبيق وړ دي هغه حقوق بشري تړونونه او مقررات چي د ماشومانو کم نه کم عمر په شخړو کې د ونډي اخيستني لپاره د منلو وړ دي هغه د ۱۸ کلني پوري اوچت کړيدي. د ماشومانو د حقونو د اختياري پروټوکول کنواسيون هغه ماشومانو په اړه چي په جنګ کې ښکيل وي د پروتوکول د غړو هيوادونو څخه غواړي چي د ماشومانو کم نه کم عمر په جنګونو کې د اجباري ګمارني او ونډي اخيستني لپاره ۱۸ کلونو ته اوچت کړي. د افغانستان دولت د ماشومانو د حقونو د اختياري پروتتوکول کنوانيسون سره خپل الحاق د ۲۰۰۲ کال د دسمبر په مياشت کې کړيدی. علاوه له دي اختياري پروټوکول ياغيان او

نوري غیري دولتي مسلحي ډلي يي د ۱۸ کلني نه لاندي خلکو په شخړو کې د ګمارني او ګټې اخیستني لپاره په هر شکل او هر قسم شرایطو کې منع کړي دي.

## ۳. پر ماشومانو جنسي تيري او نور ډولونه د تيري



© cnn

هر وخت چې مونږ د ماشومانو د حالاتو په اړه د اسلامي اصولو خبري کوو قران او سنت په واضح ډول هر هغه عمل او کړنه چې د ماشومانو په تربيت او پالنه باندي يا د ماشوم لپاره سالم چاپيريال او ماشوم ته جسمي ، ذهني او رواني نقصان رسوي منع ګرځولي دي او ويلي چې مرتکب کيدونکي يې ملعون دي جنسي تيري او زور زياتي له ماشومانو سره د ماشومانو په حقونو باندي يو د لوي تيريو څخه ګڼل کيږي د اسلام قانون د ماشومانو د عليا ګټو په خونديتوب باندي ټينګار کوي. په نتيجه کې ماشومان د ټولني يو اسيب پذيره قشر دي چې د هر قسم جنسي زور زياتي په وړاندي ملاتړ ته اړتيا لري.

**قران کریم:**

الله تعالي فرمايلي دي:

**«وَلاَ تَقْرَبُوا الْفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ وَلاَ تَقْتُلُوا النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللّهُ إِلاَّ بِالْحَقِّ ذَلِكُمْ وَصَّاكُمْ بِهِ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ» (سورة الانعام ١٥١)**

او مه نږدې کيږئ فواحشو (بې حيايي ، ناکارو کارونو) ته هغه چې ښکاره وي له دي (فواحشو) او هغه چې پټ وي ، او مه وژنئ تاسي نفس هغه نفس چې حرام کړي دي الله (وژل يې) مګر (وژنئ يې) په حقه سره دا (څلور نهي او يو امر) حکم کړي دي الله تعالي تاسي ته په دي سره له پاره د دي چې عقل وچلوئ (پکښې) تاسي. (انعام سوره ، ١٥١ ايت)

الله تعالي همدارنګه فرمايي:

**«وَأَوفُوا بِالعَهدِ إِنَّ العَهدَ كانَ مَسئُولا» (سورة الاسراء ٣۴)**

او وفا کوئ په عهد (د الله)، بيشکه چي عهد دي پوښتيدلي شوي (له عاهده). (اسراء سوره ، ٣۴ ايت)

**«وَلاَ تَعْتَدُواْ إِنَّ اللّهَ لاَ يُحِبِّ الْمُعْتَدِينَ» (سورة البقرة 190)**

تجاوز مه کوئ ځکه چې د الله ج تجاوز کوونکي نه خوښيږي. (بقره سوره ، ١٩٠ ايت)

پر ماشومانو باندي جنسي تيري د هغو کسانو له خوا چې د ماشومانو د ساتني او پاملرني دنده په غاړه لري د اعتماد په وړاندي يو ډول خيانت شميرل کيږي او د ژمني او وعدې ماتول دي چې د الله ج پر وړاندې ګناه دي. اسلام د اعتماد پر وړاندې له خيانت څخه کرکه لري. الله ج فرمايي:

«يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَخُونُوا اللَّهَ وَالرَّسُولَ وَتَخُونُوا أَمَانَاتِكُمْ وَأَنتُمْ تَعْلَمُونَ»
(سورة الانفال27)

اې هغو کسانو چې ايمان راوړي ، د الله ج او د هغې د پيغمبر سره خيانت مه کوئ ، همدا ډول په هغو شيانو کې چې تاسوته د امانت په ډول سپارل شوي خيانت مه کوئ ، او خپله پوهيږئ چې بايد خيانت ونه شي. (انفال سوره ، ۲۷ ايت)



© reuters

په هغه ماشوم جنسي تيري چې د ښو او بدو ترمنځ توپير نه شي کولي او پوهيږي چې په څه مجبور شوي دي ، د يو انسان پر وړاندې د جسمي او رواني تاوتريخوالي يوه لويه نوعه ده. اسلام هم دا عمل يوه لويه ګناه پيژندلي ده او د اسلام په جزايي حقوقو کې يو لوي جنايت بلل شوي دي.

**لنډه تشريح:** د جنسي تيري په صورت کې کيداي شي يو ماشوم خپل ژوند له لاسه ورکړي ، او يا وروسته کيداي شي د خپلې کورنۍ د غړيو له لورې ووژل شي په ځانګړي ډول د ماشومانو نجونو د

قضیو په اړه. د يو کړه او غير عادلانه منطق له مخې د دې پرځاي چې د قرباني سره مرسته او د هغه ملاتړ وشي هغه ملامت ګڼل کيږي.

د يو ماشوم شخه ناوړه ګټه اخيستنه نه يوازې نوموړي ته رواني ستونزه او روحي فشار پيدا کوي ، بلکې د هغه يا هغې په روحي او فزيکي وده باندې ناوړه تاثير کوي.

**«وَلُوطًا إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِ أَتَأْتُونَ الْفَاحِشَةَ مَا سَبَقَكُم بِهَا مِنْ أَحَدٍ مِّن الْعَالَمِينَ» (سورة الاعراف 80)**

**ژباړه:** او (ياده کړه اي محمده دوي ته قصه د) لوط کله چې وويل خپل قوم ته آيا راتګ کوئ تاسي ډير بد کار (لواطت) ته چې نه دي ړومبي شوي له تاسي شخه دي کار ته هيڅ يو له ټولو خلکو (نو تاسي يي هم مه کوئ). (اعراف سوره ، ۸۰ ايت)

**«وَ الـلَّذَانِ يَـأْتِيَانِـهَا مِـنكُمْ فَـآذُوهُمَا فَـإِن تَـابَا وَأَصْلَحَا فَـأَعْرِضُوا عَنْهُمَا إِنَّ اللهَ كَـانَ تَـوَّابًا رَّحِيمًا» (سورة الـنساء ۱۶)**

**ژباړه:** او هغه دواړه سړي چې راځي دي (قبيح کار ته) له تاسي نو ايذاء ورسوئ دو ته ، نو که توبه اويستله دي دواړو نه ، بيشکه چې الله دي ښه توبه قبلوونکي (د ګنهکارانو) ډير رحم والا (په انعام د اجر او ثواب سره). (النساء سوره ، ۱۶ ايت)

**حديث شريف:**

اسلام په انسان باندې هر ډول حمله او تيز ورتګ منع کړي دي:

**«کل المسلم على المسلم حرام دمه وماله وعرضه» ( رواه مسلم)**

پيغمبر ص وفرمايل: په ټولو مسلمانانو باندې د نورو مسلمانانو وينه ، ناموس او مال حرام دي. ( دا حديث شريف امام مسلم په صحيح ، کتاب البر ، فصل 4/1986 حديث 2546 نقل کړي دي)

**لنډه تشریح:** پر ماشومانو باندې جنسي تیري د ناوړو او بدو عنعناتو، رواجونو او د تاوتریخوالي ښخه د سترګو د پټولو په نتیجه کې صورت مومي او د تبعیضي باورونو او نظریاتو اساس ګڼل کیږي، چې د اسلامي شریعت سره په ټکر کې راځي او د ماشومانو دحقوقو د نقض یا ماتیدو سبب ګرځي. په دې اړه اسلامي پوهان او مذهبي مشران د اسلامي قوانینو په توضیح کې مهم رول لري، چې د برابرۍ او ترحم دستور ورکوي. اسلام تجاوز په ځانګړې ډول پر ځوانانو او زیانمنونکو کسانو باندې منع کوي او دعدالت او قانون منګولو ته د مجرمینو په سپارلو باندې ټینګار کوي.

سره له دې چې ښځې د جنسي استثمار زیان منوونکي دي، مکمن کوچني هلکان هم د جنسي استثمار لاندې راشي، د مثال په توګه د بچه بازۍ په شان ناوړه رواج. پر ماشومانو جنسي تیري ممکن د هلکانو د هڅونې او ښکلا او یا هم د هغه لویانو د زور په نتیجه کې صورت ونیسي چې د دې هلکانو د ساتنې او پاملرنې لپاره ګمارل شوي او باور پرې شوي او په مقابل کې له دغه اعتماد سره خیانت کوي.

### ملي قوانین

**د افغانستان د جزا قانون**

**۴۲۷ مه ماده:**

۱- که شخص د مونث سره زنا یا لواطت یا د نر سره لواطت وکړي د حالاتو سره سم په اوږده حبس محکومیږي.

۲- د پورتنې فقرې فعل په یوه راتلونکي حالتونو کې د مشدده حالونو ښخه شمارل کیږي.

۱. په هغه حالت کې چې مجني علیه اتلس کلنۍ عمر نه وي پوره کړي.

۲- په هغه حالت کې چې ارتکاب کوونکي د دریيمې درجې پورې د مجني علیه د خپلوانو ښخه وي.

۳- په هغه حالت کې چې ارتکاب کوونکي د مجني عليه تربيه کوونکي ، ښوونکي ، مستخدم او يا په يو قسم د اقسامو په هغه نفوذ او اختيار ولري.
۴- په هغه حالت کې چې مجني عليه مړوخه (خاوند لرونکي) ښځه وي.
۵- په هغه حالت کې چې د مجني عليها بکارت د فعل د ارتکاب په سبب زايل شوي وي.
۶- په هغه حالت کې چې دوه نفره يا د هغې څخه زياتو په مجني عليه د غلبې پيدا کولو دپاره يو تر بله سره مرسته کړي وي يا فعل يو د بل پسې مرتکب شوي وي.
۷- په هغه صورت کې چې مجني عليه د فعل د ارتکاب په سبب په تناسلي مرض اخته شوي وي.
۸- په هغه صورت کې چې مجني عليها حامله شوي وي.

**۴۲۹ مه ماده:**

۱-که شخص په عنف يا تهديد يا هم حيلې د چا په ناموس عام له دې چې مذکر وي يا مونث تيري وکړي او يا پرې شروع وکړي په اوږده حبس چې له اوه کلونو څخه زيات نه وي محکوميږي.
۲- که مجني عليه د اتلس کلني عمر ته نه وي رسيدلي يا د جرم ارتکاب کوونکي د دې قانون د (۴۲۷) مادې د (۲) فقرې د درج شويو اشخاصو د جملې څخه وي په اوږده حبس چې د لسو کلونو څخه زيات نه وي محکوميږي.

**د اطفالو سرغړونو ته د رسيدګۍ قانون**

**۷ مه ماده:**

د طفل مجازات حتي د اصلاح او روزني په منظور په شديد ډول او له سپکاوي سره جواز نه لري.

تجاوز او د جنسي تاوتریخوالي نور شکلونه د افغانستان په جزا قانون کې په واضح او ښکاره ډول منع شوي دي. د افغانستان د جزا قانون د ۴۲۷ مادې له مخې ( چې زنا او لواطت یې جرم پیژندلي دي) په ټولو وختونو کې د جنګي شرایطو او وخت پر مهال هم د تطبیق وړ دي. د جنسي تاوتریخوالي عمل په هغه صورت کې مشدده حالت ځان ته غوره کوي کله چې د یو چا پر وړاندې ترسره شي چې د اتلس کلنۍ عمر یې نه وي بشپړ کړی او یا هم کله چې مرتکب پر قرباني شوي کس نفوذ او واک ولري. په همدې ډول د جزا قانون ۴۲۹ ماده هم جنسي تاوتریخوالي جرم ته مشدده حالت ورکوي کله چې دغه عمل د اتلسو کلونو د کم عمر هلك یا نجلۍ ماشوم پر وړاندې تر سره شوی وي.

**نړیوال مقررات**

**د ماشوم د حقونو کنوانسیون** [د افغانستان حکومت په ۱۹۹۴ کال د مارچ په میاشت کې په دې قانون پورې د ځان الحاق کول اعلان کړ]

**۳۵ مه ماده:**

غړي هیوادونه باید ملي ، دوه اړخیز او څو اړخیز اقدامات په لار واچوي تر څو د ماشومانو د هر ډول تښتوني ، پلورنې او قاچاق څخه مخنیوی وکړي.

**۳۷ مه ماده:**

غړي هیواد باید تضمین ورکړي چې:

**الف:** هیڅ یو ماشوم باید شکنجه او په غیر انساني شکل مجازات او تحقیر نه شي.

**د ژینو د ۱۹۴۴ کال کنوانسیونونو دریمه عمومي ماده:**
**د جنګ پر مهال د ملکیانو د ساتني په رابطه د ژینو (۴) کنوانسیون**

**۳۴ مه ماده:**
یرغمل نیونه منع دي.

**۲۷ مه ماده:**
د ملاتړ وړ اشخاص په هر حالت کې د ځان د حیثیت ، کورني حقوقو ، مذهبي اعمالو ،اعتقاداتو او د خپلو رسمونو او رواجونو مستحق دي. هر وخت له دوي سره باید انساني چلند وشي او د هر ډول تاوتریخوالي او ویرونکو اعمالو او ښکنځلو په مقابل کې یې باید ملاتړ وشي. په ځانګړي ډول د ښځو د حیثیت او شرافت په مقابل کې هر ډول عمل لکه جنسي تیري ، فحشا ته مجبورول او د هر ډول تجاوز په مقابل کې یې ملاتړ او حمایت وشي.
په جګړه کې ښکیل دولت باید د هغو کسانو په اړه چې تر خپل حمایت او ملاتړ لاندې لري د ټولو مقرراتو په رعایت کولو سره د هغوي مزاج ، عمر او جنس اوبرابري په پام کې نیولو سره پرته له هر ډول نامساعد توپیر او تبغیض لکه نژادي ، مذهبي او سیاسي عقایدو سره سم چلند وکړي.

**په جنګ کې د ښکیلو ماشومانو د حقونو د کنوانسیون په اړه اختیاري پروتوکول**

**۳ مه ماده:**
۱- په هر وسیله د ماشوم عرضه کول ، تحویلول او قبلول د لاندني مقصدونو لپاره:
الف: د ماشوم د جنسي استثمار به مقصد
ب: په جبري کار کې د ماشومانو ګمارل

**د روم د نړیوال جنايي محکمې اساس نامه**

**۸ مه ماده ، جنګي جنايت:**

۸,۲. په دي اساس نامه کې «جنګي جنايتونه» لاندي معناوي ورکوي: [په غير بين المللي مسلحو شخړو کې د تطبيق وړ قوانينو او رواجونو څخه سرغړنه]
**۲.۸** (هـ) (VI). د جنسي تيري ارتکاب ، جنسي مقصد لپاره برده داري ، د زور له لارې فحشا ته اړ ايستل ، د زور له لارې حامله کول ، کوم څه چې د ۷ مادې ، دويم بند (و) برخه کې تشريح شوي دي ، د زور له لارې شنډول او يا هم هر ډول جنسي تاوتريخوالي چې د ژنو د څلورو کنوانسيونونو د ۳ مادې مشترکې سره سخت په ټکر کې حسابيږي.

د ماشومانو (هلکانو او نجونو) پر وړاندې جنسي تيري او يا هم د تاوتريخوالي نور ډولونه په صريح او ښکاره ډول د بشري حقونو نقض او ماتيدنه ده او د نړيوالو بشرپالني د قانون له مخې څرګنده سرغړونه شميرل کيږي. د جنسي تاوتريخوالي د ملاحظې وړ ځيني عملونه ممکن يو جنګي جنايت او يا هم د بشريت پر وړاندې يو جنايت وبلل شي. د مسلحو شخړو په شرايطو کې ، تجاوز او د جنسي تاوتريخوالي نور شکلونه د ژنو د کنوانسيون او د الحاقي پروتوکولونو له مخې منع شوي دي. د کنوانسيونونو هغه موارد چې په ماشومانو پورې اړه لري ، په ښکاره ډول پر ماشومانو باندي جنسي تيري منع کوي.

د انساني رفتار يا چلند مکلفيت چې د ژنيو کنوانسيونونو په ۳ مشترکه ماده کې ذکر شوي دي ، په ضمني ډول د ښځو او ماشومانو پر وړاندې جنسي تيري او نور جنسي تاوتريخوالي منع کړي دي. د ژنيو ۴ کنوانسيون ۲۷ ماده په ښکاره ډول لاندې اعمال منع کوي او داسي وايي: « ښځي (د نجونو په شمول) د دوي د عزت او وقار په وړاندي له هر ډول تيري څخه بايد په ځانګړي حمايت شي مخصوصاً د جنسي تيري ، د زور له لاري فحشا ته مجبورول او د عنف پر وړاندې د هر ډول تجاوز پر وړاندې.

## ۴. د ماشومانو اختطاف



© allvoices

د دي په پام کې نيولو سره چي اسلامي قوانين د کورنيو او ماشومانو په ساتنه او ملاتړ ټينګار کوي ، د ماشومانو نيونه او تښتونه د هغوي د خپلي خوښې او يا هم د هغوي د ولي له رضايت څخه پرته ، د يوې لنډې يا هم اوږدې مودې له پاره پرته له کوم موجه دليل څخه يوغير قانوني او د انساني کرامت او کورنۍ مخالف عمل دي. دغه عمل د بشري حقونو د نړيوال قانون او د ژينو د کنوانسيونونو له مخي يوه واضح او ښکاره تخطی دي او د بشريت پر وړاندې د جنګي جنايتونو او د بشر پر وړاندې له جنايت څخه شميرل کيږي.

**قرآن کريم:**

**«وَاذْكُرُوا إِذْ أَنْتُمْ قَلِيلٌ مُسْتَضْعَفُونَ فِي الأَرْضِ تَخَافُونَ أَنْ يَتَخَطَّفَكُمُ النَّاسُ» (سورة الانفال 26)**

ژباړه: او یاد کړئ تاسي هغه وخت چي تاسي لیږ ضعیف کړي شوي وئ په ځمکه کې ویریدئ تاسي له دي نه چي وبه تښتوي تاسي خلك. (انفال سوره ، ۲۶ ایت)

**حدیث شریف:**

**عَنْ أَبِـي هُرَيْـرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْـهُ**
**«عَنِ الـنَّـبِـيِّ صَلَّى اللهُ عَلَـيْـهِ وَسَلَّمَ قَـالَ قَـالَ اللهُ ثَلاَثَـةٌ أَنَـا خَصْمُهُمْ يَـوْمَ الْـقِـيَـامَـةِ رَجُلٌ أَعْطَى بِـي ثُـمَّ غَدَرَ وَرَجُلٌ بَـاعَ حُرًّا فَـأَكَلَ ثَـمَـنَـهُ وَرَجُلٌ اسْتَـأْجَرَ أَجِيـرًا فَـاسْتَـوْفَـى مِـنْـهُ وَلَـمْ يُـعْطِ أَجْرَهُ»**
**(صحيح بـخـارى جزء ٧ صفـحـه ٤٧١)**

**ژباړه:** د ابوهریره رض څخه روایت دي چې پیغمبر ص وفرمایل: درې کسان دي چې د قیامت په ورځ به زه د هغوي دښمن وم ، اول هغه کس چې زما په نوم پیمان او ژمنه کوي او وروسته هغه ماتوي ، دویم هغه کس چې یو ازاد انسان خرڅوي او قیمت یې خوري او دریم هغه کس چې له یو چا کار اخلي او مزدوري یې نه ورکوي. (صحیح بخاري جزء ۷ صفحه ۴۷۱)

**«قَـالَ رَسُولُ اللهُ صَلَّى اللهُ عَلَـيْـهِ وَسَلَّمَ «لَـيْسَ مِـنَّـا مَنْ لَـمْ يَـرْحَمْ صَغِـيـرَنَـا وَيَـعْرِفْ حَقَّ كَـبِـيـرِنَـا» (مسند أحمد)**

**ژباړه:** رسول الله ص فرمایلي دي: هغه ډله چې زمونږ په ماشومانو رحم ونه کړي او د مشرانو مو احترام ونه کړي زمونږ څخه نه ده. (مسند ډحمد)

**لنډه تشریح:** مور او پلار ، نیکه ګان او رسمي ولي د ماشومانو د غوښتنو او ملاحظاتو قانوني مراقبت کوونکي دي ، هر بل څوك چې د زور یا بلې لارې ماشوم اختطاف کوي په حقیقت کې د ماشومانو ګټو ته صدمه رسوي ، په داسې حال کې چې دا عمل منع شوي دي.

اختطاف اکثراً د جنسي ګټې اخیستني ، د ماشومانو د قاچاق ، د بدن د غړو د خرڅولو ، د ماشوم د کورني څخه د پیسو د ترلاسه کولو او همدارنګه د مسلحو ډلو سره د ماشوم د استخدام ، استفاده کول او ارتباط درلودلو په مقصد ترسره کیږي ، اسلامي شریعت بل ته د ضرر نه رسولو د اصل پر استناد په هر ډول شرایطو کې هر ډول انسان تښتونه او ناوړه

ګټه اخيستنه منع کوي. نو له دې امله انسان تښتونه د اسلام په قوانينو کې څرګنده سرغړونه ګڼل کيږي او ايجابوي چې مرتکبين يې د عدالت منګولو ته وسپارل شي.

## ملي قوانين

### د افغانستان اساسي قانون

۲۴ مه ماده:
ازادي د انسان طبعي حق دي. دا حق د نورو له ازادۍ او له عامه مصالحو پرته چې د قانون له لارې تنظيميږي حدود نه لري. د انسان ازادي او کرامت له تيري خوندي دي. دولت د انسان ازادۍ او کرامت په ساتنه او درناوي مکلف دي.

### د افغانستان د جزا قانون

**۴۱۴ مه ماده:**
که شخص په غير قانوني تصريح شويو حالونو يا د صلاحيت لرونکو مقامونو د امر څخه غير بل شخص ونيسي ، توقيف يې کړي ، يا يې د کار څخه منع کړي د حالونو سره سم په متوسط حبس محکوميږي.

**۴۱۵ مه ماده:**
که نيول ، توقيف او منع کول د داسې شخص په وسيله تر سره شي چې رسمي لباس بې له دې چې حق يې ولري استعمال کړي يا خپل ځان په دروغجن صفت متصف يا يو جعلي امر د دولتي مقامونو د امر په عنوان خلکو ته ښکاره کړي د احوالو سره سم په اوږده حبس چې د لسو کلونو څخه زيات نه وي محکوميږي.

**۴۱۶ مه ماده:**
که نيول ، توقيف او منع کول په زور او اکراه يا د قتل په تهديد يا د بدني ازيت د

تهدید سره یو ځای وي یا دا چې ارتکاب کوونکي د دولتي موظفینو د جملې څخه وي د دې قانون د (۴۱۵) مادې د تاکل شوي جزا په اکثرې اندازې محکومیږي.

**۴۱۸ مه ماده:**

که یو شخص یو ماشوم چې د اوه کلنۍ عمر یې نه وي بشپړ کړي یا نور اشخاص چې د خپل ځان په ساتنه قادر نه وي په خپله یا د بل شخص په وسیله اختطاف او یایې په کنډواله کې خوشي کړي په متوسط حبس چې د دریو کلونو څخه زیات نه وي محکومیږي.

**۴۱۹ مه ماده:**

ددې قانون د (۴۱۸) مادې د درج شوي جرم په اثر د طفل یا شخص د اعضاوو څخه یوه عضوه تلف یا معیوب شي ارتکاب کوونکي عمدي زخم په جزا او که په مرګ منجر شي د عمدي قتل په ټاکل شوي جزا محکومیږي.

د افغانستان اساسي قانون د ازادۍ پر حق ټینګار کوي او څرګندوي چې انساني کرامت او ازادي له تیري خوندي ده. حق یوه الهي تحفه ده چې په خاصو شرایطو کې محدودیږي. د افغانستان د جزا قانون د ازادۍ په اړه ځانګړي ټینګار کړي او په صریح ډول وایي چې هغه مامورین چې د قانون سره سم د ازادۍ د محدودولو صلاحیت لري هغوي هم د خاصو شرایطو لاندې د ازادۍ د حق د محدودولو واك لري. دا ځانګړي شرایط د قانون له مخې تعریف شوي دي. د افغانستان د اساسي قانون او د جزا د قانون سره سم د ماشومانو اختطاف په واضح ډول له قانون څخه سرغړونه ګڼل شوي ده او یو جرمي عمل تشکیلوي.

## نړیوال مقررات

**۱۹۴۸ کال د بشري حقوقو نړیواله اعلامیه**

**۳ مه ماده:**

هر شخص د شخصي ازادۍ ، امنیت او د ژوند حق لري.

**۹ مه ماده:**

هیڅوك باید په خپل سر توقیف ، حبس او تبعید نه شي.

**د غیر بین المللي منازعاتو په اړه د (۱۹۴۹) د ژنیو د کنوانسیونونو الحاقي پروتوکول ( ۱۹۷۷ دویم پروتوکول)**

**۴ مه ماده:**

بې غیر له دې چې مخکې په عمومیاتو کې ذکر شول ، لاندې اعمال چې په اول پرګراف ذکر شوي د هغو اعمالو څخه دي چې د افرادو پر وړاندې په هر وخت او هر ځای کې منع دي او منع به وي.

۱- د یو چا د ژوند ، روغتیا او فزیکي او رواني سلامتي پر وړاندې تیري کول په ځانګړې ډول قتل او همدا ډول ظالمه چلند لکه شکنجه ، د غړي پرې کول او د جسمي تاوتریخوالي نور شکلونه.

۲.ډله ییز مجازات

۳.یرغمل نیونه

۴- تروریستي کړنې

۵- انساني کرامت ته سپکاوي ، په ځانګړې ډول تحقیر کوونکي او توهین کوونکي چلند ، جنسي تیري ، په جبري شکل فحشا ته اړ کول او د تیري نور ناوړه شکلونه.

۶- غلام ساتنه او په ټوله معنا سره د غلامۍ تجارت

۷- لوټول یا غارت کول

۸- د ذکر شویو اعمالو په ترسره کولو تهدیدول

**د ماشومانو د حقونو د کنوانسیون (د ۱۹۸۹ کال د نومبر ۲۰ مصوبه)**
[افغانستان د ۱۹۹۴ کال د مارچ په ۲۸ د دې کنوانسیون سره د یو ځای کیدو اعلان وکړ]

**۳۵ مه ماده:**
غړي هیوادونه باید ملي ، دوه اړخیزي او څو اړخیزي اقدامات په لار واچوي تر څو د ماشومانو د هر ډول تښتوني ، پلورني او قاچاق څخه مخنیوي وکړي.

**د روم د نړیوال جنایي محکمې اساس نامه**

**۸ مه ماده ، جنګي جنایتونه:**
۸,۲. په دې اساس نامه کې «جنګي جنایتونه» لاندې معناوي ورکوي: [په غیر بین المللي مسلحو شخړو کې د تطبیق وړ قوانینو او رواجونو څخه سرغړنه]
۸,۲. (ج) (iii) یرغمل نیونه

د ژنیو د کنوانسیونونو ۳ مشترکه ماده د ملکي وګړو پر وړاندې د چلند په اړه په وضاحت سره بیان کړې او د ماشومانو تښتونه یې په ښکاره او صریح ډول منع کړې ده. د ملکي وګړو په زوره بې ځایه کول او ایستل د ژنیو په دواړو کنوانسیونونو کې منع شوي دي او په دې کې د ماشومانو د تښتونې نمونې هم شاملې دي. په انسان تښتونه کې په جبري شکل ورکیدل هم شامل دي چې د څو نړیوالو سندونو له مخې منع شوي دي. پر دې سر بیره په زوره له ازادۍ محرومول د نړیوال عرفي مقرراتو له مخې چې د ټولو دولتي او غیر دولتي ښکیلو ډلو له خوا د تطبیق وړ دي ، منع شوي دي.

## ۵. پر ښوونځیو او روغتونونو باندې حملې



دا ښکاره ده چې ښوونه او روزنه د یوې ټولنې د روښانه راتلونکي له پاره اساس او بنسټ دي. ښوونې او روزنې ته لاس رسی د هر انسان په ځانګړي ډول د ماشومانو یو اساسي او مسلم حق دي. ښوونه او روزنه د اسلام د سپیڅلي دین ، ملي او نړیوالو سندونو له مخې د هر ماشوم حق دي ، پرته له دې چې هغه نجیلۍ ده که هلك. روغتیا ته د لاس رسي حق په دې معنا ده چې ټول وګړي پرته له هر ډول تبغیض روغتیایي خدمتونو او اسانتیاوو ته لاس رسي ولري ، دا لاس رسي څلور مشترك ابعاد لري لکه ، فزیکي لاس رسي ، اقتصادي لاس رسي ، معلوماتي او له هر ډول تبغیض پرته لاس رسي. فزیکي روغتیایي خدمتونه ، مواد او اسانتیاوې باید د ټولنې ټولو قشرونو ته په ځانګړي ډول زیانمنونکو ډلو ته په خوندي شکل او په متناسب شکل او د مالي توان سره سم برابرې شي. همدا ډول خلك حق لري چې د روغتیایي مسایلو په اړه معلومات په لاس کې ولري تر څو معلومه کړي چې ټولو ته روغتیایي خدمتونه له هر ډول تبغیض پرته وړاندې شوي دي. د روغتیایي خدمتونو په اړه یوه بله مهمه موضوع دا ده چې روغتیایي خدمتونه باید د خلکو له پاره د منلو وړ وي ، په دې معنا

چې خدمتونه او اسانتیاوې باید دخلکو د فرهنګ او ذهنیت سره سمې وي او په داسې ډول پلان شي چې د خلکو له پاره د منلو وړ وي.

**«قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الَّذِينَ يَعْلَمُونَ وَالَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ إِنَّمَا يَتَذَكَّرُ أُولُوا الْأَلْبَابِ» (سورة الزمر ۹)**

**ژباړه:** ووايه (اي محمده!) آيا برابر دي سره هغه کسان چې پوهیږي (او خاوندان د علم دي) او هغه کسان چې نه پوهیږي (جاهلان وي ، بلکه برابر نه دي) بیشکه دا خبره ده چې پند اخلي خاوندان د خالصو عقلونو. ﴿الزمرسوره ، ۹ ایت﴾

په اسلام کې د ښوونې او روزنې له حق څخه انکار کولای نه شو. پیغمبر ﷺ د جنګ درې کسه بندیان د اسلامي ټولنې غړیو ته د تعلیم د ورکولو په مقابل کې خوشي کړل ، پردې سربیره یې په دې تاکید وکړ چې:

**«قَالَ رَسُولُ اللهِ صلي اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «طَلَبُ الْعِلْمِ فَرِيضَةٌ عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ» (سنن ابن ماجه)**

**ژباړه:** پیغمبر ﷺ د علم په اړه فرمایلي دي چې ( علم په هر نارینه او ښځینه فرض دي) (سنن ابن ماجه)

په اسلامي قانون کې فریضه هغې عمل ته ویل کیږي چې سرته نه رسول یې له ځان سره جزا لري. د ښوونځیو او روغتونو د حملو په اړه د تشخیص اصل چې پورته ذکر شو د تطبیق وړ دي. ښوونځي او روغتونونه د ملکي ځایونو څخه شمیرل کیږي او له هر ډول حملې خوندي دي. د ښوونځیو او روغتونونو تخریبول په ځمکه کې د فسادونو څخه شمیرل کیږي او سخته سزا لري.

**قرآن کریم:**

**«وَلَوْلَا دَفْعُ اللَّهِ النَّاسَ بَعْضَهُم بِبَعْضٍ لَّهُدِّمَتْ صَوَامِعُ وَبِيَعٌ وَصَلَوَاتٌ وَمَسَاجِدُ يُذْكَرُ فِيهَا اسْمُ اللَّهِ كَثِيرًا وَلَيَنصُرَنَّ اللَّهُ مَن يَنصُرُهُ إِنَّ اللَّهَ لَقَوِيٌّ عَزِيزٌ» (سورة الحج ۴۰)**

ژباړه: او که چیرې نه وې دفع کول د الله خلکو لره ځیني د دوې لره په ځینو نورو باندې خامخا نړولې شوې به وې تکیې او مدرسې او عبادتخانې او مسجدونه چې یاد شې په هغو کې نوم د الله ډیر ، او خامخا مرسته به وکړي هرومرو الله له هغه چا سره چې مرسته ورکوي (دین د) دغه (الله) ته ، بیشکه چې الله خامخا قوي (د خپلو احکامو په تنفیذولو کې) ډیر زورولا دي (په هر چا). (الحج سوره ، ۴۰ ایت)

**«وَإِلَى ثَمُودَ أَخَاهُمْ صَالِحًا قَالَ يَا قَوْمِ اعْبُدُوا اللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُ هُوَ أَنشَأَكُم مِّنَ الْأَرْضِ وَاسْتَعْمَرَكُمْ فِيهَا فَاسْتَغْفِرُوهُ ثُمَّ تُوبُوا إِلَيْهِ إِنَّ رَبِّي قَرِيبٌ مُّجِيبٌ» (سورة هود، آيه ۶۱)**

**ژباړه:** او (لیږلي مونږ) ثمودیانو ته (قومي) ورور د دوي صالح. وي ویل اي زما قومه عبادت کوئ (یواځي) د الله ، نه شته تاسي ته هیڅ برحق معبود غیر له ده ، هم دغه (الله) پیدا کړي یئ تاسي له ځمکي (چي آدم یا ماده د نطفي ده) او اوږده عمرونه یي درکړي دي تاسي ته په دغي (ځمکي) کي نو مغفرت وغواړئ له ده څخه (او په وحدانیت یي ومنئ) بیا رجوع وکړئ ده ته (له عبادتونو د نورو ،) بیشکه رب زما ډیر نږدي دي (په رحمت او په فضل خپل سره) ښه قبلوونکي د دعا دي. (هود سوره ، ۶۱ ایت)

د ښوونځیو ارزښت او وضعیت د مسجدونو په شان دي ، لکه څه ډول چې د پخوانیو پیړیو را هیسې له مسجدونو د عبادت ترڅنګ د ماشومانو ( که هلکان دي یا جونه) د تعلیم له پاره هم ګټه اخیستل کیږي.

**«وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّن مَّنَعَ مَسَاجِدَ اللَّهِ أَن يُذْكَرَ فِيهَا اسْمُهُ وَسَعَى فِي خَرَابِهَا» (سورة البقرة 114)**

**ژباړه:** او څوک دي لوي ظالم (بلکه نشته) له هغه چا څخه چي بندوي مسجدونه د الله له دي چي ياد کړي شي په هغو کې نوم د الله او کوښښ کوي په ورانولو (او شاړولو) د هغو کې. (بقره سوره ، ۱۱۴ ايت)

له همدې امله د زده کړې په هر مرکز حمله کول د اسلامي شريعت له مخې منع دي.

**حديث شريف:**

يزيد ته د اول خليفه ابوبکر صديق رض له لورې په لاندې شيانو هدايت شوي و:

**«وَ إِنِّي مُوصِيكَ بِعَشْرٍ لَا تَقْتُلَنَّ امْرَأَةً وَلَا صَبِيًّا وَلَا كَبِيرًا هَرِمًا وَلَا تَقْطَعَنَّ شَجَرًا مُثْمِرًا وَلَا تُخَرِّبَنَّ عَامِرًا» (موطأ مالك)**

ژباړه: زه تا ته لس لارښوونې کوم: ماشومان ، ښځې او سپين ږيري مه وژنه ، ميوه لرونکې ونې مه پرې کوه او تعميرونه مه ورانوه. (ؒمالك فى موطا )

**لنډه تشريح:** له هغې ځايه چې ښوونځي د علم او معرفت کورونه دي ، اسلام د هغوي تخريب منع کړي دي.

له بل لوري پيغمبر ص وفرمايل چي خداي ج انسان د ځمکې د ابادۍ ( نه د تخريب) له پاره د خليفي په حيث تعين کړي دي.

ملايکو خداي ج ته وويل چې:

**«قالوا اتجعل فيها من يفسد فيها» (سورة البقره 30)**

**ژباړه:** نو وويل پرښتو آيا ګرځوي ته په ځمکه کې هغه څوك چي فساد به کوي په دې کې او تويوي به (په ناحقه سره) ويني. (بقره سوره ، ۳۰ ايت)

له بلې خوا دا د هر مسلمان شرعي دنده ده د دې پر ځای چې د بدو او فسادي اعمالو سبب وګرځي له منع شويو شيانو ځان وژغوري.

**«روى مسلمٌ أنّ رسولَ الله صلى الله عليه وسلمَ قالَ: «إنَّ الملائكَةَ لتضعُ أجنِحَتَها لطالبِ العلمِ رضًى بما يصنع» (صحيح مسلم)**

**ژباړه:** ملايکې خپلې وزرې د هغو کسانو د پښو لاندې د هغوی سره د خوشالۍ د ښکاره کولو په خاطر هواره وي څوك چې د علم لټون کوي.( صحيح مسلم)

**«حدَّثَنَا أَبُو النُّعْمَانِ، قَالَ: حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ، عَنْ زِيَادِ بْنِ عِلاَقَةَ، عَنْ أُسَامَةَ بْنِ شَرِيكٍ قَالَ: كُنْتُ عِنْدَ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم وَجَاءَتِ الأَعْرَابُ، نَاسٌ كَثِيرٌ مِنْ هَاهُنَا وَهَاهُنَا، فَسَكَتَ النَّاسُ لاَ يَتَكَلَّمُونَ غَيْرَهُمْ، فَقَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ، أَعَلَيْنَا حَرَجٌ فِي كَذَا وَكَذَا؟ فِي أَشْيَاءَ مِنْ أُمُورِ النَّاسِ، لاَ بَأْسَ بِهَا، فَقَالَ: يَا عِبَادَ اللهِ، وَضَعَ اللهُ الْحَرَجَ، إِلاَّ امْرَءًا اقْتَرَضَ امْرَءًا ظُلْمًا فَذَاكَ الَّذِي حَرِجَ وَهَلَكَ، قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ، أَنَتَدَاوَى؟ قَالَ: نَعَمْ يَا عِبَادَ اللهِ تَدَاوَوْا، فَإِنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ لَمْ يَضَعْ دَاءً إِلاَّ وَضَعَ لَهُ شِفَاءً، غَيْرَ دَاءٍ وَاحِدٍ، قَالُوا: وَمَا هِيَ يَا رَسُولَ اللهِ؟ قَالَ: الْهَرَمُ، قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ، مَا خَيْرُ مَا أُعْطِيَ الإِنْسَانُ؟ قَالَ: خُلُقٌ حَسَنٌ.» (سنن ابی داود، جزء 4، صفحه 1)**

**ژباړه:** اسامه د شريك زوی وويل: زه د پيغمبر ص سره وم چې څو عرب چې په صحرا کې ناست و راغلل، شاه وخوا ډېر کسان و، هيڅ يو له دوی په څه شي خبرې نه کولې، هغوی وويل: د خدای ج پيغمبره! مونږ زياتې ستونزې تجربه کوو او دا هغه مسايل و په کوم کې چې خلکو ته تاوان نه رسيږي. هغې وفرمايل: د خدای ج بندګانو! الله ج ټول مشکلات ليري کړي دي مګر په هغه صورت کې کله چې يو انسان په بل انسان باندې بې انصافه تهمت ولګوي، دا هغه شخص دی چې ستونزې او مشکلات به په سر وړي. هغوی وويل: د خدای ج پيغمبره! ايا مونږ کولی شو چې له هغو شيانو د ناروغانو د تداوۍ له پاره

ګټه واخلو؟ پیغمبر ص وفرمایل: د خدای ج بنده ګانو ، تاسو کولي شئ چې د درملنې له پاره ترې ګټه واخلئ. الله ج هیڅ داسې مرض او درد نه دي پیدا کړي چې د هغې له پاره یې دوا او دارو نه وي جوړ کړي پرته له یوې ناروغۍ. هغوي پوښتنه وکړه هغه څه دي اې د خدای ج پیغمبره؟ پیغمبر ص په ځواب کې ورته وفرمایل: هغه زړښت دي. هغوي وپوښتل کوم شي ښه دي چې یو انسان ته ورکول شي؟ هغې وفرمایل: یو ښه شخصیت. ( سنن ابي دادو ، ۴ برخه ، اوله صفحه)

## ملي قوانین

### د افغانستان اساسي قانون

**۴۳ مه ماده:**

زده کړه د افغانستان د ټولو اتباعو حق دي چې د لیسانس تر درجې پورې وړیا د دولت له خوا تامینیږي.

**۴۴ مه ماده:**

دولت مکلف دي چې د ښځو د زده کړو د پراختیا او توازن د ایجاد په منظور ، د کوچیانو د زده کړو د ښه والي او په هیواد کې د بې سوادۍ د له منځه وړلو لپاره اغیزمن پروګرامونه طرح او تطبیق کړي.

**۵۲ مه ماده :**

دولت د افغانستان د ټولو اتباعو لپاره د ناروغیو د مخنیوي او د وړیا علاج وسیلې او روغتیایي اسانتیاوې د قانون له احکامونو سره سم تامینوي.

دولت د قانون سره سم د خصوصي طبي خدمتونو او روغتیایي مرکزونو جوړول او پراختیا هڅوي او ملاتړ یې کوي.

دولت د سالمې بدني روزنې د پیاوړتیا او د ملي او سیمه ییزو ورزشونو د پراختیا

لپاره لازم تدبیرونه نیسي.

**۵۳ مه ماده:**

دولت د شهیدانو او مفقودینو له پاتې کسانو، د معلولینو او معیوبینو د بیا ځواکمنۍ او په ټولنه کې د هغوي د فعالې ونډې اخیستنې په خاطر د مالي مرستو او روغتیایي خدمتونو د تنظیم لپاره د قانون د حکمونو سره سم لازم تدبیرونه نیسي.

دولت د متقاعدینو حقوق تضمینوي او زړو کسانو، بې سرپرسته ښځو، معیوبینو، او معلولینو او بې وسه یتیمانو سره د قانون د حکمونو سره سم لازمي مرستې کوي.

**د افغانستان د جزا قانون**

**۳۶۹ مه ماده:**

۱- که څوك په عمداً د زهرناکو مکروبي یا نورو مضرو شیانو په اچولو چې د عامو خلکو صحت ته مضر وي په څاه، د اوبو په مخزن، عمومي ذخیره خانې یا نورو شیانو ته چې د عامو خلکو د استعمالولو په منظور تیار شوي وي دخلکو ژوند یا مالونه د خطر سره مخامخ کړي په دوام لرونکي حبس محکومیږي.

۲- که د پورتني فقرې د درج شوو جرمونو ارتکاب د انسان مرگ ته منجر شي ارتکاب کوونکي په اعدام محکومیږي.

**۳۷۰ مه ماده:**

که څوك څاه، یا عمومي مخزن یا بل هر شي چې له دې نوعې څخه وي فاسد کړي په داسې ډول چې د هغې په اثر یې مطلوبه گټه کمه شي، په لنډ حبس یا نقدي جزا چې د دولس زرو افغانیو څخه زیاته نه وي محکومیږي.

**۳۷۱ مه ماده:**

۱- که څوك آلې، نل یا د اوبو، برق، غاز د مرفقونو مخصوصي آلې یا نور عمومي

مرفقونه عمداً مات یا تلف کړي چې د هغې په اساس عمومي مرفقونه معطل شي ، په متوسط حبس او نقدي جزا چې د پنځه ویشتو زرو افغانیو څخه زیاته نه وي یا ددې دواړو جزاګانو څخه په یوې محکومیږي.

2. که څوك عمداً صحي ثابت یا د انتقال وړ تاسیسات یا په هغه کې موجود وسایل خراب ، تلف یا متضرر کړي یا د هغې یو شي د کاره واچوي یا یې د استفادې څخه وباسي په متوسط حبس چې د دوه کلونو څخه کم نه وي محکومیږي.

3. که څو په خطا سره د دې مادې د (۱) فقرې د یوه درج جرم ارتکاب کوونکې شي په لنډ حبس او نقدي جزا چې د پنځه زرو افغانیو څخه زیاته نه وي محکومیږي.

د تعلیم حق د افغانستان په اساسي قانون او همدارنګه د اقتصادی ، اجتماعی ا و فرهنګی حقونو په نړیوال میثاق کې تضمین شوي دي. دې میثاق ۱۳ ماده تصریح کوي چې دولت مکلف دی څو لومړني تعلیمات په وړیا ډول ، په پراخه کچه او په جبري ډول برابر کړي. همداراز د اساسي قانون ۴۳ ماده تر لیسانس درجې پورې په وړیا توګه تحصیل او تعلیم تضمینوي او برسیره پر دې له دولت څخه غواړي چې دې هدفونو ته د رسیدو لپاره نړیوال پروګرامونه تطبیق کړي. دې نه علاوه اساسي قانون تعلیم او تحصیل ته د ښځو او کوچیانو د مساوي لاسرسي په وړاندې مثبت تبعیض هم تصریح کوي.

د افغانستان د اساسي قانون د ۵۲ مې مادې پر بنسټ ، د افغانستان حکومت وعده ورکړې چې مجاني روغتیایې خدمات به ټولو هیوادوالو ته برابروي. د افغانستان د حکومت له لورې د کوچنیانو د حقوقونو د کنوانسیون د تصویب سره پر دغه موضوع لا زیات ټینګار شویدی چې د هغې پر بنسټ حکومت د دې وعده ورکړې چې د میندو او ماشومانو د مړینې د مخنیوي په منظور لازم تدابیر نیولي او د دې ډاډ یې ورکړي چې د زیږیدو نه وړاندې او وروسته به میندو ته روغتیایي آسانتیاوې برابروي. (د ۲۴ مادې ۲ مه فقره). د بشر د حقونو دغه مسوولیتونه او مکلفیتونه په هر وخت کې (دجګړې د حالت په ګډون) د پلې کیدو وړ دي.

## نړیوال مقررات

**د بشر د حقوقو نړیواله اعلامیه (۱۹۴۸)**

**۲۶ مه ماده:**

هر څوك د ښوونې حق لري.

**د ماشومانو د حقونو کنوانسیون** (د ۱۹۹۴ کال د مارچ په میاشت کې د افغانستان له لوري ومنلي شوه)

**۲۴ مه ماده:**

غړي هیوادونه د ماشوم لپاره د لوړو روغتیایي معیارونو څخه برخورداري او د ناروغي د درملني او د روغتیا د بهبود لپاره د ماشوم حق ګڼي او په رسمیت یې پیژني. غړي هیوادونه به هڅه کوي تر څو هیڅ یو ماشوم د نوموړو روغتیایي خدمتونو څخه بې برخې پاتې نه شي.

**۲۸ مه ماده:**

غړي هیوادونه ښوونه د ماشوم حق او دغه حق ته په دوامداره او مساوي توګه رسیدل په رسمیت پیژني.

**د ژنیو څلورم کنوانسیون ، د جګړې پر محال د ملکي خلکو د ساتنې په هکله**

**۱۸ مه ماده:**

ملکي روغتونونه چې د ملکي ټپیانو ، ناروغانو ، بې وزلو او زیږندونکو د درملنې لپاره دي نه باید په هیڅ حالت کې تر یرغل لاندې راشي بلکه په ټولو حالاتو کې په جګړه کې د ښکیلو لخوا احترام او ساتنه یې وشي.

**۱۹مه ماده:**

د روغتونونو ساتنه باید ونه درول شي تر هغې چې د خپل بشري دندي نه پرته مرتکب شي چې دښمن ته زيانمنوونکي وي. د روغتون ساتنه کيداي شي د خبرداريو په صورت کې ودرول شي البته په ټولو مناسبو حالاتو یا ضرب الاجل کې او يا کله چې نومورې خبرداري چې له پامه غورځول شوي وي. دغه حقيقت چې مسلح قواوو د ناروغ یا ټپي درملنه شوي يا د خفيفه اسلحو يا مهماتو موجوديت چې د جنګياليو نه د درملني پر محال اخيستل شوي او لا تر اوسه اړونده اداري ته نه دي سپارل شوي باید د دښمن په وړاندي زيانمنوونکي عمل ونه ګڼل شي.

**۲۰ مه ماده:**

هغه کسان چې په منظمه او ځانګړي توګه د ملکي روغتونونو د چلولو او اداري په چارو بوخت دي د هغو کسانو په ګډون چې په روغتونونو کې د تلاشي ، د ملکي ټپيانواو ناروغانو ، معلولينو او نوي زيږندونکو د خارجولو ، ليږدولو او خدمت بوخت دي باید احترام او ساتنه يې وشي.

**د غير نړيوالي جګړي د قربانيانو د ساتني په هکله د ژنيو (۱۹۴۹) کنوانسيون پوري تړلي پروتوکولونه (دويم پروتوکول) (۱۹۷۷)**

**۴مه ماده:**

ماشومانو لپاره باید د ساتني او مرستي آسانتياوي برابري شي ، په تيره بيا په ځانګړي ډول:

الف. باید ښووني نه برخمن شي البته د مذهبي او اخلاقي ښوونو نه چې د والدين په خوښه او يا د والدين په نه موجوديت کې چې د چا په غاړه يې سرپرستي وي.

**۹مه ماده:**

۱- باید د روغتيايي او مذهبي کسانو درناوي او ساتنه وشي او باید د هغوي د دندو د تر سره کولو لپاره کومه مرسته چې ورته رسيداي شي برابره شي. دوي نه باید په دي مجبور شي چې داسي دندي ترسره کړي چې د دوي د بشرپالني د

ماموریت شخه بهر دي.
۲- روغتیایي پرسونل به د خپلو دندو پر مهال چاته برتري یا لومړیتوب نه ورکوي البته پرته له روغتیایي دلایلو یا مواردو نه.

**۱۱مه ماده:**

۱- باید د روغتیایي او ترانسپورتي ځانګو درناوي او ساتنه وشي او نه باید تر یرغل لاندي ونیول شي.
۲- روغتیایي او ترانسپورتي ځانګې باید د ساتنې له حقه تر هغه پوري بې برخي نه شي تر څو د بشري دندو څخه پرته په ضررناکو عملونو لاس پوري کړي. د روغتون ساتنه کیداي شي د خبرداریو په صورت کې ودرول شي البته په ټولو مناسبو حالاتو یا ضرب الاجل کې او یا کله چې نوموړي خبرداري چې له پامه غورځول شوي وي.

**د روم د نړیوالي جزایي محکمي اساسنامه (افغانستان د ۲۰۰۳ کال د فبروري په میاشت کې ومنله)**

**۸مه ماده ، جنګي جنایت** [په غیر بین المللي مسلحو شخړو کې د تطبیق وړ قوانینو او رواجونو څخه سرغړنه]
۸،۲. (هـ) (ii) په قصدي ډول او په نیغه په ودانیو ، موادو ، روغتیایي ځانګو او ترانسپورت باندي او پر هغو کسانو باندي یرغل چې د نړیوال قانون په مطابقت په ښکاره ډول د ژنیو د کنوانسیونونو نښان ځان سره لري.
۸،۲. (هـ) (iv) په قصدي ډول او په نیغه په هغه ودانیو باندي یرغل چې د دیني مسایلو ، ښووني ، هنر ، علم او یا خیریه کارونو لپاره کارول کیږي ، تاریخي ځایونه ، روغتونونه او هغه ځایونه چیري چې ناروغان او یا ټپیان په کې ټولیږي چې نظامي هدفونه نه دي.

مساوي حقوق چې هغه د مناسبو روغتیایي آسانتیاوو او ښووني ته لاسرسي دي که هغه د سولې په وخت کې وي او که د جګړې پر محال وي د بشر د حقونو نړیوال قانون کې ځاي لري چې د نړیوالو قوانینو بنسټیز اصول دي.

د ښوونځیو یا روغتونونو په وړاندي یرغل د بشري حقونو د نړیوالو قانون د بنسټیزو اصولو په خلاف کار دي چې کیداي شي د بشر پر ضد جرم او جګړیز جرایم وګڼل شي. د بشري حقونو نړیوال قانون تر سیوري لاندي، د ملکي ځایونو په څیر د ښوونځیو او روغتونونو ساتنه وشي او په همدي وجه د بشرپالني د توپیر او تناسب د اصل څخه برخمن دي. د ژنیو څلورم کنوانسیون د ملکي تاسیساتو هدفول منع کوي او د ملکیانو لپاره په تیره بیا کوچنیانو ته د ښوونځیو او روغتونو په اهمیت باندي ټینګار کوي.

په قصدي ډول د ښوونځیو او روغتونونو هدفول چیرته چې نظامي قوې ته ضرورت نه وي د عمومي حقوقي اصولو پر بنسټ منع دي چې په نوموړو اصولو کې په ډاګه شویده چې د ملکي او د مشروع نظامي څیزونو تر مینځ باید توپیر وشي او د نظامي عملیاتو په ترڅ کې تري ساتنه وشي چې دا د نړیوال قانون عرفي اصل دي چې د مسلحانه جګړې په ټولو حالاتو کې د پلي کیدو وړ دي.

د ښوونځیو او روغتونونو ساتنه یو جامع عمل دي: د نړیوال عرفي او تړونیز قانون پر بنسټ، په جګړه کې ښکیله ډله باید د هغوي په ملکي ځایونو کې د یرغل په وړاندي د ښوونځیو او روغتونونو د ساتني سربیره د ښوونځیو او روغتونونو د هدفولو او پر هغوي د تاړاك نه مخنیوي وکړي. په قصدي ډول د ښوونځیو او روغتونونو (او یا نور ملکي څیزونو) هدفول یا پري یرغل کول د مسلح جګړیز قوانین تر پښو لاندي کول دي چې د یواځیني او ځانګړي ساتني اصل چې د ښوونځیو او روغتونو ساتل دي خلاف عمل دي تر هغه پوري چې تر څو نظامي هدفونه وي البته په دي مانا چې د نظامي مقصدونو لپاره کارول کیږي.

## ۶. بشردوستانه خدمتونو ته د لاس رسي مخنيوي



© shutterstock

**قران کريم:**

**«وَيُطْعِمُونَ الطَّعَامَ عَلَى حُبِّهِ مِسْكِينًا وَيَتِيمًا وَأَسِيرًا» (سورة الانسان ٨)**

**ژباړه:** او ورکوي خواړه پر محبت دغه (طعام) مسکين ته او يتيم ته او اسير ته (الانسان سوره ، ٨ ايت)

**«وَتَعَاوَنُواْ عَلَى الْبرِّ وَالتَّقْوَى وَلاَ تَعَاوَنُواْ عَلَى الإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ وَاتَّقُواْ اللّهَ إِنَّ اللّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ» (سورة المائده ٢)**

**ژباړه:** او مرسته (مدد) کوئ تاسي يو تر بله په نيك کار او تقوي (پرهيزګاري) کې او مه کوئ تاسي مرستي (مدد) يو تر بله پر ګناه او پر عدوان (ظلم تجاوز) او ويريږئ تاسي له الله څخه بيشکه چي الله ډير سخت دي عذاب (د ده متخلفينو لره). (المائده سوره ، ٧ ايت)



© globalvoicesonline

**«وَيَمْنَعُونَ الْمَاعُونَ» (سورة الماعون ۷)**
**ژباړه:** او منع کوي دوي مال د زکات یا اسباب د معاونت یا امداد یو له بله. (الماعون سوره ، ۷ ایت)

**«وَلَا تَحَاضُّونَ عَلَى طَعَامِ الْمِسْكِينِ» (سورة الفجر ۱۸)**
**ژباړه:** او نه تیزوئ تاسي یو بل په طعام (خواړه ورکولو د محتاجانو) د مسکینانو. (الفجر سوره ، ۱۸ ایت)

**لنډه توضیح:** بې وزلو ، اړو ، یتیمانو او بندیانو ته د خوړو ورکول په ځانګړي ډول په داسې یوه حالت کې چې شخص پخپله هم ورته مبرمه اړتیا او له هغه سره مینه ولري ، په اسلام کې یو ستر عمل ګڼل کیږي. سربیره پر دې ، لکه څرنګه چې یې پورته یادونه وشوه ، د بنستیزو او لومړنیو خدمتونو لکه خوړو او روغتیا پالنې ته د لاس رسي مخنیوي په ګډون ،

له جنګي اغیزو څخه د ماشومانو نه ملاتړ له قران او د پیغمبر علیه السلام له سنتو سره په ټکر کې دي.

**حدیث شریف:**

**«قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ نَفَّسَ عَنْ مُؤْمِنٍ كُرْبَةً مِنْ كُرَبِ الدُّنْيَا نَفَّسَ اللَّهُ عَنْهُ كُرْبَةً مِنْ كُرَبِ يَوْمِ الْقِيَامَةِ وَمَنْ يَسَّرَ عَلَى مُعْسِرٍ يَسَّرَ اللَّهُ عَلَيْهِ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَمَنْ سَتَرَ مُسْلِمًا سَتَرَهُ اللَّهُ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَاللَّهُ فِي عَوْنِ الْعَبْدِ مَا كَانَ الْعَبْدُ فِي عَوْنِ أَخِيهِ» (صحيح مسلم، جزء ١٣ ص ٢١٢)**

**ژباړه:** له ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دي ، چې رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمایي: چا چې له یوه مومن څخه د دنیا له سختیو څخه یوه سختي لیرې کړه ، الله تعال به یې په بدل کې د قیامت د ورځې یوه سختي لیرې کړي ، او چا چې د یوه اړ او په ستونزه کې ګیري شخص سره مرسته وکړه ، الله تعالي به ورسره د دنیا او آخرت د چارو په اسانتیا کې مرسته وکړي ، او چا چې د یوه مسلمان پر عیب او ګناه پرده واچوله ، الله تعالي به د هغه پر عیب او ګناه په دنیا او آخرت کې پرده واچوي ، الله تعالي له هغه بنده سره مرسته کوي ، څوک چې له خپل ورور سره مرسته کوي. (صحیح بخاري ، ۱۳ ټوک ۲۱۲ مخ)

**حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ قَالَ حَدَّثَنِي مَالِكٌ عَنْ نَافِعٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا**

**«أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ عُذِّبَتْ امْرَأَةٌ فِي هِرَّةٍ حَبَسَتْهَا حَتَّى مَاتَتْ جُوعًا فَدَخَلَتْ فِيهَا النَّارَ قَالَ فَقَالَ وَاللَّهُ أَعْلَمُ لَا أَنْتِ أَطْعَمْتِهَا وَلَا سَقَيْتِهَا حِينَ حَبَسْتِيهَا وَلَا أَنْتِ أَرْسَلْتِهَا فَأَكَلَتْ مِنْ خَشَاشِ الْأَرْضِ» (صحيح بخارى، جزء ٨ ص ١٨٤)**

**ژباړه:** له حضرت عبد الله بن عمر رضي الله عنه څخه روایت دی ، چې رسول اکرم علیه السلام فرمایلي: یوه ښځه له دې امله چې پیشو یې بندي کړې وه ، نه یې خپله خواړه او څښاك ورکاو او نه یې هغه پرېښوده چې په ځمکه کې وګرځي او حشرات وخوري ، نو له لوږې ومړه ، په عذاب او اور ته داخله کړای شوه. (صحیح بخاري ، ۸ ټوك ، ۱۸۴ مخ)

اسلامي قانون د ملکي او نظامي ځایونو د تشخیص او تفکیك اصل تایید او همدارنګه د ماشومانو پر سترو او علیا ګټو تاکید کوي. دا په ښکاره او څرګند ډول درك شوې ، چې ماشومان د وسلوالې جګړې د ښکیلو خواوو طرف نه دي او نیغ په نیغه په شخړو کې ښکیل نه دي. نو په دې اساس له ماشومانو باید په هر حالت کې ساتنه وشي؛ بشردوستانه مرستو ته د لاس رسي مخنیوي ، د ماشومانونو د سترو او علیا ګټو له اصل څخه سرغړونه ده او همدارنګه یوه اړتیا ده چې له ماشومانو څخه د جنګي اغیزو په وړاندې ساتنه وشي.

د اسلامي قانون سره سم ، د هغو بشردوستانه مرستو غلا یا تصاحب (تملك) چې د بې وزلو او اغیزمن شویو لپاره په پام کې نیول شوي ، قطاع الطریقي ته ورته جرم دي او د درندې سزا لامل کیږي. په اسلام کې د ژوندانه حق خورا مهم دی ، په دې بنسټ ، د ناوړه حالاتو ، د ژوند د ساتنې په موخه د روغتیایي پاملرنې ، خوړو ، اوبو او روغتیا پالنې په ګډون بشردوستانه مرستې د ژوندانه د حق یوه برخه ګڼل کیږي. نو د دې له مخې ، د هغو اغیزو په پام کې نیولو سره د جګړې له ډګر څخه د راپورته شویو متاثرو وګړو پر ژوند یې لرې په ځانګړي ډول د ماشومانو ، بشردوستانه مرستو ته د لاس رسي مخنیوی له شرعي قانون څخه یوه ښکاره سرغړونه بلل کیږي.

## ملي قوانین

### د جزا قانون

**۴۴۷ مه ماده:**

۱- که ځوك د مغالبې د لارې د مال د اخستلو په قصد په عمومي لار کې يا په بل هر محجور ځاى کې د وسلې سره يا د داسې آلې سره چې د وسلې سره مشابه وي ځاى ونيسي ، او د يوه راتلونکي فعل ، ارتکاب کوونکي شي لاروهونکي شمارل کيږي .

الف. د لاروي ويرول.

ب. د تهديد يا اکراه سره د غير مال اخيستل.

ج. د انسان قتل.

د. د انسان د قتل او د غير مال اخستل.

۲- که د لاروهني په جرم کې د حد د اقامه کيدو شرطونه پوره نه شي يا په يو قسم د اقسامو د حد محکوم بها جزړء ساقط شي ارتکاب کوونکي ددې فصل د درج شوو حکمونو سره سم په تعزيري توګه مجازات کيږي.

## نړيوال مقررات

**د ماشومانو د حقونو کنوانسيون (چې د ۱۹۹۴ کال د مارچ په ۲۸مه د افغانستان لخوا ومنل شو)**

**۶مه ماده:**

۱- غړي هيوادونه ژوند د کوچنيانو د ذاتي حق په توګه په رسميت پيژني.

۲- غړي هيوادونه بايد تر څو چې امکان لري د ماشوم د ژغورني او رشد ډاډ ورکړي.

**۲۴مه ماده:**

د دغه کنوانسيون غړي هيوادونه د ماشوم لپاره د لوړو روغتيايي معيارونو نه برخورداري او د ناروغي د درملني او د روغتيا د لا ښه کيدل د ماشوم حق ګڼي او په رسميت يې پيژني. غړي هيوادونه به هڅه کوي تر څو هيڅ يو ماشوم د نوموړو

روغتیایي خدمتونو نه بې برخې پاتې نه شي.

**۲۷مه ماده:**

د دغه کنوانسیون غړي هیوادونه د ماشوم لپاره د ژوند مناسبو معیارونو حق چې هغه د ماشوم ظاهري ، ذهني ، رواني ، اخلاقي او ټولنیز پرمختګ دي په رسمیت پیژني.

**د غیر نړیوالي جګړې د قربانیانو د ساتنې په هکله د ژنیو (۱۹۴۹) کنوانسیون پورې تړلې پروتوکولونه (دویم پروتوکول) (۱۹۷۷)**

**۱۴مه ماده:**

د ملکیانو وږې ساتل که د جګړې د میتود په نیت وکارول شې ، منع دي. همدارنګه پر ټولو هغو څیزونو یرغل ، د هغوي ورانول ، لیرې کول یا خوشې ساتل لکه خوراکي توکي ، کرهنیزې سیمې چې د خوراکي توکو د تولید لپاره ترې ګټه اخیستل کیږي لکه فصلونه ، څاروي ، د اوبو څښلو تاسیسات او توکي او یا د اوبو لګولو سامانونونو ، منع دي.

**۱۸مه ماده:**

۲- که چیرې ملکي کسان د ژغورنې لپاره د ضروري توکو د کمښت په وجه د کومې سختۍ یا ستونزې سره مخ کیږي لکه د خوراکي موادو یا د درملنې توکو ، نو د ملکیانو لپاره بشري فعالیتونه چې په ځانګړې توګه بشري او بې طرفه وې او چې پرته له کوم تبعیضه باید سرته ورسیږي ، باید د غړي هیواد په خوښه سرته ورسیږي.

**د روم د نړیوالې جزایي محکمې اساسنامه** (چې افغانستان د ۲۰۰۳ کال د فبروري په میاشت کې ومنله)

**۸مه ماده ، جنګي جنایت**

۸,۲. په دي اساس نامه کې «جنګي جنايتونه» لاندي معناوي ورکوي: [په غير بين المللي مسلحو شخړو کې د تطبيق وړ قوانينو او رواجونو څخه سرغړنه]
۲.۸. (هـ) (iii) په قصدي ډول او په نيغه په ودانيو، موادو، روغتيايي څانګو او ترانسپورت باندي او پر هغو کسانو باندي يرغل چې د نړيوال قانون په مطابقت په ښکاره ډول د ژنيو د کنوانسيونونو نښان ځان سره لري.
۸,۲. (هـ) (iv) په قصدي ډول او په نيغه پر هغو کارکوونکو، تاسيساتو، موادو، څانګو او موټرونو باندي يرغل چې د ملګروملتونو د منشور په مطابقت سره د بشرپالني د مرستو يا د سوله ساتني د ماموريت په چارو بوخت دي، تر هغه وخته پوري چې دوي د وسله والو نښتو د نړيوال قانون له مخي د ملکي خلکو او ودانيو په شان د ساتني مستحق وي.

د ژنيو د څلورم کنوانسيون او تړلي پروتوکولونو پر بنسټ، بشري مرستو ته د ماشومانو د لاسرسي مخه نيول او د بشري کارکوونکو پر وړاندي چې ماشومانو سره مرسته کوي، تيري کول منع دي. د نړيوال عرفي قانون اصل دي چې په جګړه کې ښکيل ډلي د خپل مسووليت تر سيوري لاندي بايد ملکي وګړو ته چې اړ دي، بشري مرستو ته اجازه او لاره هواره کړي. د دغو بشري مرستو برابرول بايد بي طرفانه وي او هيڅ ډول تبعيض په کې ونه شي لکه د نژاد، عمر او يا قوم پر بنسټ.

بشري مرستو ته د ماشومانو د لاسرسي مخنيوي کيداي شي د بشر د بيلابيلو اساسي حقونو باندي تيري وګڼل شي. د ټولو وګړو د ګرځيدو آزادي حق د مرستندويه کارکوونکو په ګډون په بيلابيلو بشري حقوقو نړيوالو او سيميزو سندونو کې درناوي ورته شوي. پر دي سربيره، بشري مرستو ته د هغوماشومانو د لاسرسي مخنيوي چې اړتيا ورته لري کيداي شي چې د ژغورني د حق د لوږي نه د خلاصيدو حق په ګډون چې اساسي حق دي تر پښو لاندي کوي. د بشري مرستو په ترڅ کې ماشومانو ته بايد ځانګړي پاملرنه وشي او هر ډول مرسته او خونديتوب ته چې اړ وې ورته برابر شې.

د بشري مرستو د پرسونل د هغو کسانو په ګډون چې په ځينو عملياتو لکه د ماين پاکونه بوخت دي او د هغوي د وسايطو ساتنه چې د مسلح جګړي د قوانينو له زړو اصولو نه شميرل کيږي بايد په پام کې ونيولي شي. د ژنيو د کنوانسيونونو او د هغي پوري تړلي پروتوکولونو پر بنسټ ، د بشري مرستندويه پرسونل ، د هغوي د وسايطو او تعميرونو يا هغو شيانو چې د بشري کارونو لپاره تري کار اخيستل کيږي بايد ځانګړي ساتنه يې وشې. په جګړه کې ښکيلې ډلې ، د نظامي ضرورتونو څخه پرته ، بايد هر وخت د مجازي بشري مرستندويه پرسونل خپلواکي تضمين کړي. روغتيايي نقليه وسايط او تاسيسات به خاص ډول لا زياتي ساتني ته اړتيا لري. دغه محافظتونه د نړيوالو عرفي قانون په شان په رسميت پيژندل کيږي.



**د پاریس اصول د ماشومانو ملتیا د مسلحو قواو او ګروپونو سره، ۲۰۰۷**

**۱.۲ ماده:**

د یو ماشوم د مسلحو قواو او یا ډلو سره یو ځاي کیدل عبارت له هر کس نه دي چي عمر یي د ۱۸ څخه کم وي مسلحو قوتونو یا ګروپونو ګمارلي وي باید په هر شکل چي وي استعمال په شمول د ماشومانو که هلکان وي یا انجوني استعمال یي د یو جنګیالي په صفت وي یا اشپز ،جوالي، پیغام وړونکي جاسوسي او جنسي مقصدونو لپاره وي دا یواځي دي هغه ماشومانو پوري محدوده نه دي چي هغه په شخړه کي مخامخ برخه اخیستي وي یا یي اخلي.